د جمهوري موسسو او بشري حقونو اداره

# د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
# پارلماني ټاکنې

۱۸ سپتامبر ۲۰۱۰

د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستې او ملا تړ تیم
**OSCE/ODIH**

وارسا،
۲۶ نوامبر ۲۰۱۰

# فهرست

۱. پېژندنه ........................................................................................................................ ۳
۲. د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنو ته ځغلنده کتنه ............................................................................. ۴
۳. پر مخ تګ: د ټاکنيزو اصلاحاتو پروسه ................................................................................... ۶
۴. د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د لومړيتوب اووه ساحي ..................................................................... ۸
الف. د لومړيتوب لومړۍ ساحه: د ټاکنو حقوقي کاري چوکاټ اصلاحات ............................................. ۸
ب. د لومړيتوب دويمه ساحه: په اغيزمنه توګه د ټاکنيزو حقونو د تقويه کولو ميکانيزم ........................... ۱۰
ت. د لومړيتوب دريمه ساحه: د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه د يوې خپلواکي، مسلکي او بې پرې ټاکنيزې اداري جوړول ........................................................................................................ ۱۱
ج. د لومړيتوب څلورمه ساحه: د ټاکنو د سپيڅلتيا د ساتني په موخه د رايي اچوونکو د ثبتولو هر اړخيزه پروسه منځته راوړل ................................................................................................. ۱۲
د. د لومړيتوب پنځمه ساحه: د منل شويو ټاکنيزو سرحدونو منځته راوړل ......................................... ۱۴
ر. د لومړيتوب شپږمه ساحه: اغيزمن سياسي ګوندونه غښتلي کول .................................................. ۱۵
س. د لومړيتوب اوومه ساحه:د ځايي څارني د ټاکنو د څېړني د يو اړين اوزار په توګه تقويه کول ............. ۱۶
لومړۍ ضميمه: د اروپا د ډيموکراټيکو بنسټونو، بشري حقونو د امنيت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټيم OSCE/ODIHR د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو وړانديزونه ........................................................... ۱۷
دويمه ضميمه: لنډون (مخففات) ............................................................................................ ۳۳
د اروپا د ډيموکراټيکو بنسټونو، بشري حقونو د امنيت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټيم (OSCE/ODIHR) په اړه........................................................................................................ ۳۵

## د افغانستان اسلامي جمهوریت

## پارلماني ټاکنې

## ۱۸ سپتامبر ۲۰۱۰

## په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان د جمهوري موسسو او بشري حقونو اداره (OSCE/ODIHR)

### ۱. پیژندنه

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د بلنې پر بنسټ په اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان (OSCE) دایمي شورا د دغه سازمان د جمهوري موسسو او بشري حقونو دفتر ته دنده وسپارله تر څو د ټاکنو د ملاتړ یو ټیم (EST) د سپتامبر د ۱۸ پارلماني ټاکنو لپاره واستوي تر څو د ټاکنو پر پروسه د وړاندیزونو په ګډون یو راپور چمتو کړي [...] چې له ټاکنو وروسته به په مناسب وخت کې پلی شي.[1] د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR EST) اته تنه د ټاکنو په شپو ورځو کې کابل ته د پنځو اونیو لپاره واستول تر څو له افغانانو او نړیوالو همکارو سره له نږدې کار وکړي.

د پارلماني ټاکنو پر ترسره کولو کې یو څه پرمختګ ترلاسه شوی خو سره له دې یو لړ جدي ننګوني لا اوس هم په مخ کې پرتې دي چې باید په راتلونکو کې ورته ځواب وویل شي. دا ننګووني نوي نه دي. په کال ۲۰۰۹ کې د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) د ښه ټاکنو د ترسره کولو لپاره ۱۳۶ وړاندیزونه وکړل.[2] د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو د راپورونو او همدا راز د کورنیو او بهرنیو څارونکو په ګډون اوس مهال د ټاکنو د اصلاح په اړه وړاندیزونه او هر اړخیز او جامع راپورونه وجود لري.

په ستر شمیر کې د شته وړاندیزونو پر بنسټ، د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR EST) خپل پام د هغو لومړیتوبونو پلی کولو ته واړولو چې لا د مخه د لومړیتوبونو[3] په توګه پیژندل شوي وو او پر ځای یې نور نوي وړاندیزونه ونکړل. پر تطبیق د دا ډول تمرکز، ځانګړې غوښتنه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون (IEC) له پلوه وشوه.[4] سربیره پر دي، دا د افغان چارواکو له هغو ارادو سره سمه ده چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نیټه یې د کابل په نړیوال کانفرانس کې ژمنه وشوه "چې د شپږو میاشتو په موده کې به د ټاکنیزو اصلاحاتو داسې یوه اوږد مهاله ستراتیژي خپله کړي چې په ځانګړې توګه به د ټاکنو پروسې ته دوام وروبخښي."[5] په پایله کې، د تطبیق موضوع ډیره په وخت ترسره شوه ځکه چې د نورو ټاکنو د ترسره کولو پورې اوس مهال د دوو کلونو وقفه موجوده وه. د نورو ټاکنو له ترسره کولو څخه د مخه ټاکنیزو اصلاحاتو ته وخت شته چې د کابل په کانفرانس کې یې ژمنه شوې ده.[6]

له قیمومیت سره سم او دې ټکي ته په پام سره، دا سند د سپتامبر د ۱۸ نیټې د پارلماني ټاکنو په اړه دی او په افغانستان کې د ټاکنیزو اصلاحاتو پر اوسني بحث خبرې کوي.

---

۱. د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان (OSCE) د دایمي شورا ۹۵۳ شمېرې پریکړه، نېټه۲۹ جولای ۲۰۱۰.
۲. ټول پخواني راپورونه له لاندې ویب پاڼې څخه تر لاسه کیدلای شي: http://www.osce.org/odihr-elections/33049.html
۳. هغه ساحې چې د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم د ټاکنو د همکارۍ ټیم (OSCE/ODIHR EST) له پلوه په ګوته شوې او له هر څه نه زیات اصلاحاتو ته اړتیا پکښې لیدل کیږي په لاندې توګه دي: د ټاکنو حقوقي کاري جوکاټ کې اصلاحات راوستل، د هغه میکانیزم قوي کول چې له لارې یې ټاکنیز حقونه خوندي کیدلای شي، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون (IEC) داسې جوړول چې خپلواکه، مسلکي او د ټاکنو د تنظیم بې پرې اداره واوسي، د نوم لیکنې یو هر اړخیز سیستم رامنځته کول تر څو ټاکنیزه سپیڅلتیا رامنځ ته کړي، د ټاکنو منل شوي سرحدونه معلومول، د اغیزمنو سیاسي ګوندونو تقویه کول او داخلي نظارت ته وده ورکول چې د ټاکنو څیړنې ته اړین ګڼل کیږي.
۴. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رییس ښاغلي معنوي، د ټاکنو د دارالانشاء رییس ښاغلی احمدزي او د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) تر منځ غونډه.
۵. د کابل د نړیوال کانفرانس د اعلامیې ۹ ماده، ۲۰ جولای ۲۰۱۰.
۶. په عام ډول داسې انګیرنه وه چې د اساسي قانون له مخې به د ټیټې کچې ټاکنې وځنډول شي. د ولسوالیو او ټیټې کچې ټاکنې اوس مهال د سرحدونو د نشتوالي او د غیرمعیاري نوم لیکنې له امله ځنډول شوي. سربیره پردې د ټیټې کچې له لارې د ټاکل کیدونکو وظایف هم لا تر اوسه روښانه نه دي.

په امکاني توګه دا په افغانستان کې د اوږدې مودې ټاکنیزو اصلاحاتو ته لاره هواروي چې افغان چارواکي او نړیوال یې باید په پام کې ونیسي. پداسې حال کې چې نوموړی راپور د لومړیتوب اوه ساحې په ګوته کوي چې عاجلې ننګونې دي او د ټاکنو د اصلاح لپاره ډیرې اړینې دي، خو دا د موضوع ګانو یو اوږد او سترې کوونکې لیست نه ورکوي چې څه ډول باید په افغانستان کې ښې ټاکنې تر سره شي. د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ تیم (OSCE/ODIHR) په پخواني راپور کې ورکړل شوي وړاندیزونه د پرمختګ او باثباته دیموکراتیکې پروسې لپاره اړین دي.

د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان (OSCE) د همکار په توګه افغانستان د دغه سازمان برخه نه دی چې باید د ۱۹۹۰ کال د کوپن هیګن د سند له مخې د جمهوري ټاکنو لپاره ژمنې ترسره کړي. خو سره له دې افغانستان په ۱۹۸۳ کې د ملګرو ملتونو د ټولنیزو او سیاسي حقونو کنوانسیون لاسلیک کړ چې له مخې یې افغانستان باید له ټاکنو سره تړلې حقونه او وجیبې پر ځای کړي. نوموړی کنوانسیون او عمومي احکام چې د ملګرو ملتونو له پلوه خپاره شوي دي[۷] افغانستان د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره تګ لارې او لارښووني منلې دي.

### ۲. د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنو ته ځغلنده کتنه

د سپتامبر د ۱۸ نیټې پارلماني ټاکنې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو له نادرپیزو ټاکنو څخه سملاسي وروسته ترسره شوې. دا ټاکنې په ننګوونکي چاپیریال کې ترسره شوې. پداسې حال کې چې په دغو ټاکنو کې ځینې مثبت پرمختګونه ترسترګو شول خو بیا هم ځینې جدي او سیستماتیکې نیمګړتیاوې یې هم درلودې. سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون روښ پرمختګ کړی خو په دراماتیکه کچه درغلۍ، تاوتریخوالي او په لوړه کچه لانجه منو پایلو د ټاکنو اعتبار او په جمهوري پروسه د عامو خلکو باور زیات نه کړ.

نوموړې ټاکنې د ټاکنو له اصلاح شوي قانون سره سمې ترسره شوې چې د ولسمشر د یو فرمان له مخې د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په میاشت کې له کمې مشورې سره تصویب شو او پارلمان ورڅخه ویستل شوی و. دا د قانون له قوت څخه راووت ځکه چې نوموړې پروسې د عامو خلکو ډیر ملاتړ له ځان سره نه درلود. د نوموړي قانون ژر تصویب د ټاکنو کمیسیون ته محدود وخت ورکړ تر څو نوې کړنلارې او مقررې په سمه توګه پلې کړي. نوموړی قانون یو لړ احکام لري چې د افغانستان د بشر د حقونو له ژمنو سره موافق نه دي او همدا راز په ځینو اساسي مسایلو خاموش هم دی لکه شکایتونو ته د ځوابونو لپاره د وخت ټاکل.

د پخوانیو وړاندیزونو له غوښتنو سره سم له ټاکنو د مخه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون نوې رهبرې وټاکل شوه. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون نوې رهبرۍ په لنډه موده کې له ټاکنو د مخه ښکاره پرمختګ ترلاسه کړ چې روڼتیا یې زیاته او پلان او کړنلارې یې لاپسې ښې کړې. په دې کې خلاصې او روښې غونډې، د پریکړو خپرول، او د رایو د مرکزونو د انفرادي پایلو په لازیاته دوستانه طریقه خپرول شامل ول. د ټاکنو کمیسیون خپل ۶۰۰۰ کارکوونکې لیرې کړل چې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د درغلیو تورونه پرې لګیدلي ول او د ګمارنې یو داسې سیستم یې رامنځته کړ چې له مخې یې د هغو خلکو بیا ګمارلو مخه ونیول شي چې پخوا په درغلیو کې ښکیل ول. خو سره له دې، دا پرمختګونه باید په اداره کې ځای پر ځای کړل شي چې تراوسه یوازې په اشخاصو او د هغو په اعمالو تکیه کوي چې نړیواله ټولنه یې ملاتړ کوي.

ټاکنې د ۲۵۰۶ کاندیدانو تر منځ ترسره شوې چې د ۲۴۹ څوکیو لپاره یې له ۳۴ ولایتونو څخه په تناسبي ډول سیالي کوله او پدې توګه یې رایه ورکوونکو ته د انتخاب پراخه او ریښتینې موقع په لاس ورکړه. خو سره له دې د کاندیدانو د نوم لیکنې پروسه له تکراري تورونو سره مل وه چې جنګ سالارانو او د ناقانونه وسله لرونکو ډلو ته اجازه ورکړل شوې چې ځانونه کاندید کړي چې د قانون له احکامو سره په ټکر کې ول.

---

۷. د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د کمیټې د ICCPR او عمومي احکامو ۲۵ ماده وګورئ؛
.http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrc/index.htm

د نوي سیستم له مخې چي د ټاکنو په قانون[۸] کي تصویب شو، د ټاکنو له خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو له کمیسیون څخه غوښتنه وشوه چي د کاندیدانو د ارزوني پروسه باید دوۍ پرمخ بوځي.[۹] په ځینو ټاکنیزو حوزو[۱۰] کي د کاندیدانو ستر شمیر، ځیني تخنیکي ستونزي ټاکنیزي اداري ته د رایي پاڼو په ډیزاین او شمیرلو کي رامنځته کړي.

د ۲۰۰۹ کال ټاکني په تاوتریخوالي بدرنګه شوې. د اختطاف او اجبار په اړه بې شمیره راپورونه ورکړل شول. په نیمایي ولایتونو کي ځایي څارونکو د فشار، تهدید او ویرې راپورونه هم د رایه ورکوونکو او هم د کاندیدانو له خوا ورکړل. داسي ښکاري چي د کاندیدانو تر منځ تاوتریخوالی او ویره په همدغو ټاکنو کي زیاته شوه. په پایله کي کمپاین ډیره په ټیټه کچه ترسره شو او په عمومي ډول داسي ترسره شو چي له رایه ورکوونکو سره نیغ په نیغه ډیرې کمي اړیکي تر سترګو کیدلي، په عام ډول په کابل کي دا ډیر تر سترګو شو. په نتیجه کي، خلکو محدوده ورتیا درلوده چي له اساسي خپلواکۍ، د بیان له آزادۍ، سوله ییزې غونډو، یوځای کیدل او تګ راتګ څخه خوند واخلي چي دا ټول د جمهوري ټاکنو د تر سره کولو لپاره اړین ګڼل کیږي.[۱۲]

د ټاکنو په ورځ څارونکو او رسنیو د لوړې کچې د تاوتریخوالي، درغلۍ او بې قاعده ګۍ راپور ورکړ. په دې کي د رایو د جعلي کارتونو استعمال، څو ځلي رایې اچونه، د رایو صندقونه ډکول، د کم عمرو رایه ورکول او د بل چا په استازیتوب رایه ورکول شامل ول. داسي راپورونه هم و چي په ځینو ځایونو کي له سره ټاکني نه وې ترسره شوې څو نتیجې یې ورکړل شوې. د شکایتونو د کمیسیون په کړنلارو کي له ښه والی سره سره مختلفو څارونکو او د ټاکنو تحلیل ګرانو د اصلي درغلیو او هڅو راپور ورکړ چي له تیر کال سره پرتله شي. د هغو کاندیدانو له پلوه د "درغلیو کلتور" ته هم رجعت ورکړل شو چي په ځان پوهیدل چي په عادلانه توګه رایي نشي ترلاسه کولای نو په همدې موخه یې غیر قانوني لارې چارې خپلي کړې. [۱۳]

د ټاکنو له ورځې وروسته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مرکزی دفتر د پایلو پاڼي ترلاسه کړې چي د رایي پاڼې او نور مواد یې په ولایتونو کي ول. د سر ورکولو په پروسه کي دا جوته شوه چي سره له دې چي د کنترول لپاره نوې لارې چارې غوره شوې وې خو بیا هم د پایلو ډیرې پاڼي د ټیټې کچې وې. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ته په لوړه کچه د درغلیو معلومات ورکړل شول او هم دا فشار وربانديې و چي ژر تر ژره پایلي اعلان کړي. د تیرو ټاکنو برعکس، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دا ځل ډیر فعال و چي په پایله کي یې ۱.۳ میلونه رایي پاڼي باطلي اعلان کړې. خو سره له دې د پریکړې کولو پر پروسه او یا څارنې هیڅ ډول معلومات ورنکړل شول چي په نتیجه کي یې د بطلان او نورو ورته پریکړو پر روڼتیا مصلحت خپل کړ. سربیره پردې، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړو پر خلاف استیناف هم نشو غوښتل کیدلای.

د شکایتونو کمیسیون ۵۸۵۶ شکایتونه تر لاسه کړل چي له رایي اچووني او رایي شمیرني سره تړلي و. له دې څخه ۲۴۹۵ ته د (A) کټګورۍ ورکړل شوې وه – چي د ټاکنو په پایلو کي بدلون راوستلای شي. ډیرې شکایتونه په ولایتي کچه حل شول چي د شکایتونو د کمیسیون د مرکزي دفتر له پلوه یې ډیره کمه څارنه کیدله. البته داسي راپورونه هم و چي د شکایتونو ولایتي کمیسیون مرکزي دفتر ته هم ځیني راپورونه د تهدید په اړه ورکړي ول. څارونکو ډلو د شکایتونو د ولایتي څانګو په اړه د روڼتیا د نشتوالي راپور ورکړ چي ډیرې وخت یې پریکړې نه خپریږي. د شکایتونو د ولایتي کمیسیونونو پریکړې ډیرې وخت له منطق څخه لیرې وې.

یک پرگراف ترجمه نشده است که در مورد اتهامات و افتراءات و نقش میدیا در انتخابات و چالشهای مربوطه میباشد.

---

۸ ۱۲ (۷) ماده، د ټاکنو قانون ۲۰۱۰

۹ د کاندیدانو د ارزوني نوی کمیسیون جوړ شو چي د ټاکنو د کمیسیون استازي، د دفاع وزارت، داخله وزارت، او د ملي امنیت استازي پکښي شامل ول چي نهایي پایلي د باطلیدلو د شکایتونو له کمیسیون سره وې.

۱۰ د بیلګي په ډول په کابل کي په رایي پاڼه کي ۶۶۴ کاندیدان د ۳۳ څوکیو لپاره ولاړ ول.

۱۱ د آیساف څواکونو راپور ورکړ چي د تیرو ټاکنو په پرتله امنیتي پیښې درې ځله زیاتې شوې دي چي د طالبان له نسکوریدو وروسته دا تر ټولو خونړۍ ورځ وه. د آنسو موسسې د ۴۴۳ امنیتي پیښو راپور ورکړ چي د هغو عناصرو له پلوه ترسره شوې چي د حکومت پر ضد و (د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو د ورځې په پرتله ۵۶٪ زیاتوالی). د دفاع وزارت وویل چي ۲۴ تنه د ټاکنو پر ورځ ووژل شول (۱۳ پولیس او ۱۱ ملکي وګړي).

۱۲ د بیلګي په توګه د افغانستان د بشر دحقونو د خپلواک کمیسیون راپور وګورئ. www.aihrc.org.af/2010_eng.

۱۳ د بیلګي په توګه د افغان تحلیل ګرانو راپور وګورئ. http://aan-afghanistan.com

بدنامول، سپکاوی او ورته تیري جنايي تيري ګڼل کيږی او پداسي حال کي چي د افغانستان رسنۍ هراړخيزه او فعالي دی خو سره له دي د بيان د آزادی په وړاندي اوس هم يو شمېر ننګوني شته چي له امله يي د ملګرو ملتونو پر مدني او سياسي حقونو د نړيوال تړون د ۱۹مي مادې په سر د افغانستان موافقت محدودوي. د ټاکنو پر مهال پر دولتي مداخلې او د بيان پر آزادی د بې ځايه محدوديتونو پرلګولو په ځانګړې توګه د اندېښنو څرګندونه وشوه. پرته له دې چي موجوده څارونکي اداري په پام کي ونيول شي د "امروز" په نوم يو تلويزيون، چي د يو برحال کانديد له پلوه اداره کيده، د يوې اجرايیوي پريکړې له امله پدې دليل بند شو چي مذهبی تاؤتريخوالی ته لمن وهي. نړيوالو رسنيو هم راپور ورکړ چي لږ تر لږه دري تنه ژورناليستان د ټاکنو په ورځ ونيول شول او په توقيف کي وساتل شول. د رسنيو تحليلګرانو د ژورناليستانو په وړاندې د ديريدونکي تشدد په سر اندیښنه وښوده.

د ټاکنو خپلواک کميسيون د څارونکو ۱۵ ځايي سازمانونو ته اجازه ورکړې وه. تر ټولو ستره د فيفا ډله وه چي شاوخوا ۲۴ مدني ټولني له ځانه سره لري. فيفا په ټوله کي ۷۰۰۰ څارونکي ګمارلي ول چي نږدې يو پر درې يې ښځې وې. په دوئ کي ۴۰۰ اوږدمهالي څارونکي و او پاتي نور يي لنډمهالي ول چي په ټولو ۳۴ ولايتونو کي يي کار کولو. خو سره له دې، له ۴۰۰ څخه يوازې ۲۲۲ ولسوالی تر پوښښ لاندي راغلې. د فيفا د څارني کړنلاره په ۲۰۱۰ کال کي د تيرو کلونو په پرتله قوي وه او دې سازمان راپور ورکړ چي د ټاکنو خپلواک کميسيون او هم د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ته يي د ټاکنو د شکايتونو په اړه تفصيلي راپورنه ورکړي. د فيفا يو شمېر کارکوونکي له تشدد، تښتوني، تهديد او ويرې سره مخ شول. (۱۴)

په ځانګړې توګه د ښځو استازيتوب د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کي يوه اساسي موضوع وه. په ټولو کانديدانو کي يوازې ۱۶٪ يي ښځي وې. ښځي کانديداني او د هغوئ کارکوونکي په ځانګړې توګه د طالبانو او نورو ناقانونه وسله والو ډلو هدف وې. د ښځو لږ شمير ځايي څارونکي او د کانديدانو استازې د ښځو د رايي په ځايونو کي درغليو ته لا ډيره زمينه چمتو کړه.

د نوامبر په ۱۵مه نېټه د ټاکنو د شکايتونو کميسيون يوه مطبوعاتي اعلاميه خپره کړه چي پکښي ويل شوي و چي دوئ د (A) کټګوری ټول شکايتونه څيړلي او په پايلو به اغيزه وکړي او دا چي دوئ به دا پايلي په لنډ وخت کي د ټاکنو خپلواک کميسيون ته د پريکړې لپاره وليږي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون د معلوماتو پر بنسټ له يو څه اړينو بدلونونو وروسته د نوامبر په ۲۴مه نيټه له ۳۴ څخه د ۳۳ ولايتونو پايلي اعلان کړې. له غزني ولايت څخه ۱۱ څوکی به له نور کتنې وروسته اعلان شي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون رييس وويل چي ۳ نور ګټونکي کانديدان له ليست څخه وويستل شول چي له دې سره د هغو ګټونکو کانديدانو شمير چي نامطلوب او حذف شول ۲۴ تنو ته ورسيد.

## ۳. پرمخ تګ: د ټاکنيزو اصلاحاتو پروسه

په افغانستان کي د وروستيو ټاکنو پيچلتيا او نانډرې د دولت د ادارې، سياسي ګوندونو، رايه ورکوونکو، مدني ټولنو او پرمختيايي ملګرو لپاره ننګوونکي وې. دا اندېښني له ټاکنيزې پروسي او تر يو څه حده د انتخاب شوي ادارې له نهايي وړتيا سره تړلي وې چي د دوئ د استازيتوب کړني پوره کړي او په اغيزمنه توګه چارې سرته ورسوي. خو سره له دې، تيره يوه کلنۍ موده چي بې له ټاکنو تيره شوه (د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال د ټاکنو له دورې وروسته)، اصلاحات اوس د افغاني چارواکو، نړيوالو مرسته کوونکو او د تخنيکي مرسته ورکوونکو په اجندا کي شامل دي.

ورستيو ټاکنو په افغانستان کي د ټاکنيزو ستونزو ننګووني او ساحي روښانه کړې. دوام لرونکي، متمرکزې او پراخه هڅي، همدا راز واضح تعريف شوي او هر اړخيزې ستراتيژۍ ته اړتيا ده تر څو په راتلونکو کلونو کي اساسي مسالو ته ځواب ووايي. د افغان چارواکو له خوا سياسي ژمني د ۲۰۱۰ کال د جولای په مياشت کي د کابل کانفرانس پر مهال وشوې چي د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره به ستراتيژي غوره کړي. راتلونکی ګام د دغه ستراتيژۍ جوړول دي. د افغانستان رهبري او مالکيت بايد د اصلاحاتو د پروسي لپاره اساسي اصول واوسي. په همدې کچه نړيواله ټولنه هم بايد په افغانستان کي ټاکنيزو اصلاحاتو ته لومړيتوب ورکړي ځکه چي دا د افغانستان د ثبات او امنيت لپاره ډير حياتي دي.

د مثبتو او منل شويو پايلو لپاره د يوې اصلاح شوي ستراتيژۍ د جوړولو پروسه ډيره مهمه ده. تر ټول مهم لومړيتوب دا دی چي د افغانانو په رهبری د اصلاحاتو د پروسي د جوړولو، ترکيبولو او واک ورکولو يوه اداره جوړه شي چي د اصلاحاتوچارې مخته ويسی. د يو لړ فکتورنو په سر هم فکر کيدلای شي چي له يوې اغيزمني ادارې سره تړلي دي او د اصلاحاتو د پروسي پرمخ وړلو وړتيا ولري.

۱۴ د فيفا پر ۴ کارکوونکو د ټاکنو پر ورځ د کانديدانو د استازو او زورمندانو له پلوه په دايکندې، فراه، کندهار، غزني او تخار کي حملي وشوې. دوه نور هم د طالبانو لخوا وتښتول شول چي وروسته بيا را خوشې شول.

- **ځواکمن شوی**

د ټاکنو اصلاحات د افغانستان او نړیوالو له خوا ټینګ سیاسي عزم ته اړتیا لري. هر ډول تخنیکي پرمختګ تر هغه وخت ګټه نه کوي تر کله چې سیاسي ښکیلتیا ونلري. ټاکنیز اصلاحات باید د افغانستان د راتلونکې نه بیلیدونکې برخه واوسي ځکه چې جمهوري ټاکنې د اوږدې مودې ثبات لپاره ډیر اړین دي.

- **پراخ قیمومیت**

تخنیکي پرمختګ یوازې نشي کولای د جمهوري ټاکنو په وړاندې سیستماتیکو ننګونو ته ځواب ووایي. د جوړښت پراخه مسالې لکه غیرمعاري حقوقي کاري چوکاټ، د ټاکنو بې سیکه اداره، بې اغیزې تفتیش، داسې سیاسي ګوندونه چې پوره پرمختګ یې نه وي کړای او د ټاکنیزو حقونو بې سیکه ساتنه په منفي توګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اعتبار او اغیزمنتوب تاثیر کوي.

- **په پراخه کچه ترکیب شوی**

ټاکنیز اصلاحات باید یوه هر اړخیزه پروسه واوسي او د اجراییه او مقننه قواو، سیاسي ګوندونو، او مدني ټولنو په ګډون د افغاني ټولنې مختلف خواوې راونغاړي. د قانون جوړونې د یوې مخکښې اداري په توګه باید پارلمان له نورو همګټو ادارو لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون او نور وزارتونه چې د ټاکنو په تنظیمولو کې ښکیل دي، د رهبرۍ رول ولوبوي. نړیواله ټولنه هم کولای شي د ملاتړي او مشاور په حیث رول ولوبوي. پداسې حال کې چې تطبیق د افغانانو پروسه ده، خو د بریالیو اصلاحاتو منځته راوړل به هم د نړیوالې ټولنې په اوږو تر هغه وخت پورې وي چې تر کله ټاکنې د دوئ په مالي مرسته ترسره کیږي.

- **بشپړ مشورتي**

له همګټو او د مدني ټولنو ډلو- چې د رایه ورکوونکو د ګټو استازیتوب کوي - سره مشورې کول، داسې عملي وړاندیزونه وړاندې کوي چې د اصلاحاتو په پروسه کې د اعتماد فضا رامنځته کولای شي. د مشورې په پروسه کې د ښځو او لږه کیو ورګډول به په دې مفکوره کې اغیزمن رول لوبوي پدې خاطر چې افغانستان د مساوات او د ټولو ګډون ته ژمن دی.

- **شفاف**

یو ښه تفسیر شوی، او خلاص روش به د ټاکنیزو اصلاحاتو پر پروسه د خلکو باور رامنځته کړي. عامو خلکو ته باید وویل شي چې څوک د اصلاحاتو مسؤل دی، اصلاحات څه ډول منځته راوړل کیږي او تر اوسه څومره پرمختګ شوی.

- **له معلوماتو ډک**

نړیوال حقوقي وجایب، ښې کړنې او د کارشناسانو نظر باید د اصلاحاتو په پروسې کې په پام کې ونیول شی. د ټاکنو لپاره نړیوال حقوقي معیارونه د اصلاحاتو د راوستلو لپاره ښه معلومات ورکولای شي. عملي نظرونه، موجوده جوړښت، او محدودیتونه باید په پام کې ونیول شي تر څو یقیني کړل شي چې اصلاحات پر حقیقت ولاړ دي، د تطبیق وړ دي، او دوام لرونکي دي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید وروسته له ټاکنو راپورونه چمتو کړي چې وښایي چې څه یې زده کړي او د ښه والي لپاره څه وړاندیزونه لري.

- **پر ښو منابعو سنبال شوی**

د اصلاحاتو لپاره د پراخه بشري او مالي منابعو اړتیا وي. د ژمنې شواهد او له ټاکنو سره په تړاؤ نړیوالو معیارونو ته رسیدل باید له پلان سره سم د لازیاتې نړیوالې مرستې په مټه ترسره شي. د منابعو ویشل د ادارو له ښه پرمختګ سره تړل کیدای شي که چیرې یوه اداره له اصلاحاتو سره په تړاؤ ښه پرمختګ وکړی. پداسې حال کې چې دا ډول شرطونه کولای شي ګټه ونلري په هغه صورت کې چې ټاکنې نږدې وي، د ټاکنو تر منځ موده مرسته کوونکو ته موقع په لاس ورکوي چې خپلې ځینې مرستې وځنډوي که چیرې د مرستو اخیستونکی هڅه نه کوي چې د ښه والي په موخ ټاکنیز اصلاحات رامنځته کړي. دا ډول روښونه افغاني سیالان نه مجبوروي چې نړیواله اجنډا پرمخ بوځي، بلکه افغانانو ته د ملګرو ملتونو پر مدني ټولنو او سیاسي ګوندونو د حقونو نړیوال کنوانسیون (ICCPR) او نورو اړونده کنوانسیونونو او انتخابونو په اړه معلومات ورکوي.

- **اوږد – مهاله**

پداسې حال کې چې د دوو کلونو موده لا اوس هم شته تر څو ټاکنیز اصلاحات رامنځته شي، نورې ډیرې موضوع ګانې به د بشپړیدو لپاره اوږده موده ولري. دوام لرونکو هڅو ته به اړتیا وي تر څو یقیني کړل شي چې اصلاحات به دوام ومومي حتی د ۲۰۱۵/۲۰۱۴/۲۰۱۳ کلونو د ټاکنو خپلواک کمیسیون په وخت هم. پداسې حال

کې چې ځینې اصلاحات به لاهم روان وي نو ځانګړو هڅو ته به اړتیا وي تر څو دا خطر وژغورل شي چې د درغلیو عملونه لاپسې غښتلي نشي او رایه ورکوونکي د جمهوري پروسې څخه نور پردي نشي.

د ټاکنیزو مرستو دوام ادارو او سازمانونو ته ډیر مهم دی تر څو په اغیزمنه توګه ټاکنو ته ادامه ورکړي. د پرمختګ اداري او همکار هیوادونه باید پلان جوړ کړي او ټاکنیزې مرستې باید د یو جمهوري حکومتدارۍ په کاري چوکاټ کې د لس کلونو لپاره په پام کې ونیسي پرځای د دې چې د هرې ټاکنیزې موقع په راتګ سره مرسته ورسوي.[۱۵] دوئ باید په دې پوه شي چې د ټاکنو تر منځ موده همدومره مهمه ده لکه څنګه چې پخپله ټاکنې.[۱۶]

- **مسؤل**
هر وخت چې یوه ستراتیژي جوړه شي او ټول پرې موافق شي، نو د هغې د تطبیق پرمختګ باید و څارل شي او پرمختګ او ځنډیدل یې باید له عامو خلکو سره شریک کړل شي. معیارونه او د تطبیق وخت باید د اصلاح شوې ستراتیژۍ د جوړولو او اصلي تطبیق لپاره تعریف کړل شي. د پرمختګ د څارنې د یو امکاني میکانیزم په حیث د ګډې همکارۍ او څارنې د بورډ یادونه د کابل کانفرانس په وخت شوې وه.[۱۷]

- **دوام**
د ټاکنو لپاره د یو دوام لرونکي ساختار منځته راوړل د اصلاح د هڅو یو حیاتي برخه ده. پداسې حال کې چې داسې شکونه شته چې ملی بودیجه به ونه توانیږي چې د ټاکنو لګښتونه په غاړه واخلي، خو د نړیوالې ټولنې اړتیا هم باوري نده چې داسې مرستو ته به دوام ورکړای شي کنه. له همدې کبله، دوام لرونکی او د یوې اوږدې مودې حل پیدا کولو ته اړتیا لیدل کیږي. د اصلاح پروسه به یو موقع ورکړي تر څو د راتلونکو ټاکنو د ترسره کولو لپاره نورې لارې چارې ولټول شي.

## ۶. د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د لومړیتوب اوو ساحې

د ۲۰۰۴ کال څخه د اروپا د ډیموکراټیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستې او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) تراوسه شاوخوا ۳۰۰ وړاندیزونه کړي چې د ځایي او نړیوالو څارونکو ډول راپورونه ورسره مل و. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په وخت، د اروپا د ډیموکراټیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستې او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) د ټاکنو د ملاتړ ټیمونو دغه وړاندیزونه و څیړل چې په پایله کې یې د لومړیتوب اوو ساحې وټاکلې چې د راتلونکو ټاکنو د اصلاح لپاره د بنسټ په توګه ترې کار اخیستل کیدلای شي.

### الف. د لومړیتوب لومړی ساحه: د ټاکنو د حقوقي کاري چوکاټ اصلاح کول

په افغانستان کې اوسنی حقوقي ساختار د قوي اجرائیوي واک له درکه جوړیږي چې ډیری قوانین چې باید د پارلمان له لارې جوړ شوي وای د ولسمشر په فرمان منځته راغلي.[۱۸] د ټاکنو لپاره حقوقي کاري چوکاټ د اساسي قانون، د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون، د ۲۰۰۹ کال د سیاسي ګوندونو قانون، د ۲۰۰۲ کال د اجتماعاتو، مظاهرو او اعتصابونو قانون، او د ۲۰۰۹ کال د ډله ییزو رسنیو قانون او یو شمیر فرمانونو پر اساس جوړ شوی چې له ټاکنو سره تړلي ول.[۱۹]

---

۱۵ اداري او د ټاکنو لګښتونه په ټاکنیزو مرستو تمرکز، وګورئ http://aceproject.org/ace-en/focus/focus-on-effective-electoral-assistance

۱۶ په ټاکنیزو مرستو د میتود لارښود، وګورئ http://www.ec.europa.eu/europeaid/multimedia/publications/publications/thematic/evaluation-methodology-external-assistance_en.htm

۱۷ د کابل کنفرانس د اعلامیې ۲۹ ماده "ګډې همکارۍ او د څارنې بورډ" ته راجع کیږي چې د حکومت او نړیوالې ټولنې پرمختګ به د ژمنو په وړاندې څاري او ارزیابي کوی .... د کابل په پروسه کې به د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې، مدني ټولنې، او هغو ډلو تر منځ د غوندو جوړول وي چې خدمتونه وړاندې کوي تر څو د ګډ حساب ورکولو لپاره نورمونه او معیارونه منځته راوړي "

۱۸ د افغانستان د اساسي قانون د ۷۶، ۶۵ او ۷۹ مادې له مخې اجراییه قوه د قانون جوړونې بنیادي واک لري.

۱۹ پدې کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون یو لړ چاپ شوي او ناچاپ شوي مقرري او کړنلارې د ټاکنو د قانون د تطبیق لپاره شاملې دي

له ټاکنو سره په تړاو قانون جوړونه به له یوې هراړخیزې کره کتنې څخه ګټه واخلي. ددغې کتنې موخه د یو حقوقي کاري چوکاټ جوړول دي ترڅو د افغانستان له نړیوالو وجایبو سره سم د جمهوري ټاکنو دا ډول کاري چوکاټ منځته راوړل شي او د ټاکنو اجراآت لاپسې ښه کړل شي. یوازې اساسي قانون جوړنې ته په کتو سره د اصلاحاتو نږدې ټولو هڅو ته ځواب ویل کیدلای شي. [۲۰]

په حقوقي کاري چوکاټ کې ښه والی د ګډون او مشورتي پروسې له لارې راتلای شي چې پدې کښې اساسي همګړتیې هم د اجراییوي او هم د پارلمان له داخل او هم بهر څخه شامل دي تر څو دې پروسې ته قانونیت او اعتبار وروبخښي. د ګډون پروسه یوه ښه وسیله ده ترڅو د ټاکنو حقوقي کاري چوکاټ له سره وکتل شي، ولوستل شي او د راتلونکې لپاره د نظر موافقه ترلاسه کړل شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پند اخیستلو، تخنیکي معلوماتو په ورکول او ماهرینو د نظر په شاملولو کولای شي د حقوقي اصلاح راوستلو لپاره یو ښه رول ولوبوي. له ټاکنو سره تړلي هغه نړیوال تړونونه چې افغانستان لاسلیک کړي باید د اصلاحاتو لپاره اساس واوسي.

د ټاکنو په قانون کې وروستي تعدیلونه یوه هراړخیزه پروسه نه وه. که څه هم یو څه مثبت پرمختګونه و خو د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون د ځینو اساسي مسالو په اړه معلومات نلري یا خاموش دی. لاندې لومړیتوبونه په پام کې نیول کیدلای شي چې کله د ټاکنو حقوقي کاري چوکاټ اصلاح کیږي یا بیا له سره کتل کیږي:

- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون میکانیزم، جوړښت، عمل کول او شفافیت (وګورئ د لومړیتوب دریمه ساحه: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د یوې خپلواکې، مسلکي او بې پرې اداري په حیث جوړول)؛
- د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون واک، د ګمارلو میکانیزم، جوړښت، ماموریت او روڼتیا (وګورئ د لومړیتوب دویمه ساحه: د ټاکنیزو حقونو په اغیزمنه توګه د ساتنې لپاره د میکانیزم تقویه کول)؛
- ټاکنیز سیستم (وګورئ د لومړیتوب ۶مه ساحه: د اغیزمنو سیاسي ګوندونو تقویه کول)؛
- د کاندید کیدلو د وړتیا شرطونه؛
- د کاندیدانو د ارزونې میکانزم چې له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړاو لري؛
- د رسنیو له خوا د ټاکنیزو رقیبانو، د ټاکنو پر مهال د رسنیو حقونه او وجایب، او همدا راز له جرم او بدنامۍ ویستل، سپکاوی او ورته تیریو پوښښ؛
- د ټاکنو په ورځ د پولیسو رول واضح کول؛
- د ټاکنیزو تیریو څیړنه او محاکمه کول؛
- د ډیرو پیاوړو سیاسي ګوندونو د ثبتولو شرطونه (وګورئ د لومړیتوب ۶مه ساحه: د سیاسي ګوندونو په اغیزمنه توګه تقویه کول)؛
- د ټاکنو د څارونکو حقونه او وجایب (وګورئ د لومړیتوب ۷مه ساحه: د محلي څارونکو د ټاکنو د ارزونې د یو مهم اوزار په توګه تقویه کول).

سربیره پر دې، د اساسي قانون ځینې برخې یا خو له نړیوالو وجایبو سره برابرې ندي او یا هم د ټاکنو لپاره ګرانې پروسې جوړوي. خو سره له دې، د اساسي قانون په اصلاحاتو باندې بحث کولو کې باید له احتیاط څخه کار واخیستل شي. په اساسي قانون کې تعدیل په عملي توګه ستونزمن دی ځکه چې باید لویه جرګه راوبلل شي.

که چیرې د اساسي قانون د تعدیل په سر پریکړه وشي نو لاندې قانوني احکام باید بیا له سره وکتل شي:
- د انتخاب شویو ادارو ستر شمیر او د ټاکنو د تقویم د هممهالی نشتوالی ډیر مشکل دي چې تطبیق شي.
- د ولسمشری [۲۱] د کاندیداتوری لپاره د محدودیتونو وضع کول د ملګرو ملتونو د مدني ټولنو او سیاسي ګوندونو له کنوانسیون له اصول سره برابر ندي.[۲۲]

---

۲۰ له اساسي قانون پرته نورو قانون جوړولو ته لومړنی قانون جوړوونه ویل کیږي. په اساسي قانون کې یوازې لویه جرګه تعدیل راوستلای شي. د لویې جرګې جوړول یو مشکل کار دی پدې چې دداسې استازو شتون پکښې اړین دی چې اوس مهال نشته.

۲۱ د اساسي قانون ۶۲.۱ ماده د هغو مسلمانانو مخه نیسي چې افغاني مور اوپلار پیدا وي.

۲۲ د ۲۵ عمومي تبصرو ۳ پاراګراف وائي: "د مذهب ... پر اساس د وګړو ترمنځ د حقونو پرسرهیڅ ډول توپیر اجازه نلري" همدا راز ۱۵ پاراګراف وائي: "هغه اشخاص چې د کاندید کیدلو مجاز دي باید په غیرمنطقي یا تبعیضي ډول لګه... میراث باید ونه ویستل شي."

- د ټاکنو د نوی قانون په څیر اساسي موضوعګانو باندې د ولسمشر واک – داسې ستونزې راولاړوي چې په پایله کې یې د قانون جوړونې قدرت راکمیږي او هم د واکونو د تقسیمولو اصول کمزوری کوي.

## ب. د لومړیتوب دویمه ساحه: په اغیزمنه توګه د ټاکنیزو حقونو د خوندیتوب میکانیزم

د ټاکنیزو حقونو ساتنه د خلکو د اعتماد لاسته راوړلو کې کلیدي رول لري پدې چې دا خلکو ته باور ورکوي چې د دوئ پر حقونو د تیري او خپلواکۍ ته د زیان رسولو په صورت کې په مناسب ډول ځواب ویل کیږي. د ټاکنیزو ستونزو د حل لپاره باید اغیزمن سیستم په کار واچول شي څکه چې دا باور ورکوي چې اصولو ته احترام کیږي او داچې که چیرې تیری پرې وشي نو تیري کوونکو ته به سزا ورکړل شي.

په ۲۰۱۰ کال کې ټاکنیزې درغلی او د معافی کلتور ډیر عام و. یو دلیل یې دا و چې دلته کمزوری جمهوري کلتور مروج و او بل د حساب ورکولو نشتوالی و چې یوازې د تخنیکي ښه والي له پلوه نشي له منځه تللای. د بنسټیز جوړښت پرمختګ په پروسه کې ښه والی راوستلای شي خو سره له دې هم په ټاکنیزه پروسه کې د اغیزمن کنترول د دوام لپاره اړین دی.

د ټاکنیزو حقونو ساتنه په اساسي توګه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون دنده ده چې پخپله یو موقته اداره ده. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون له ټاکنو څخه ۱۲۰ ورځې د مخه منځته راځي او مسؤلیت یې د کاندیدانو او رایه ورکوونکو د لیست پر وړاندې شکایتونو ته ځواب ویل دي چې له ټاکنیزو تیریو سره تړلي وي. همداراز د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د استیناف نهایی اداره هم ده. له یوه پلوه د ټاکنیزې پروسې د سپیځلتیا په موخه له ټاکنونه سمدستي مخکې دداسې یوې مهمې ادارې منځته راوړل غیر عملي کار دی څکه چې د کارکوونکو ګمارنه، د کړنلارو خپلول او د دوام یقیني کول، تمامیت او پروخت د پریکړو کول به ښایي د ټاکنو څرنګوالی په منفي توګه تر اغیزې لاندې راولي. له بل پلوه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په دایمي توګه داسې جوړول چې په ټولو ولایتونو کې دفترونه ولري، دا به ډیر قیمت تمام شي او په پایله کې به یې دوام ناشونی شي.

### ۱. د ټاکنیزو قضیو د حل لپاره د میکانزم اصلاح کول

د ټاکنو د قضیو د حل لپاره د میکانزم د اصلاح په اړه فکر کیدلای شي. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون واکونه یوځای کیدلای شي، د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون مرکزي دفترونه په دایمي توګه جوړیدلای شي، د ټاکنو د شکایتونو ولایتي کمیسیون مرکزونه د قضیو د حل لپاره خپل فعالیت بندولای شي او د ټاکنو د کمیسیون رول د شکایتونو په اوریدلو کې پیاوړی کیدلای شي.

د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون اداره د ټاکنو د قضیو د حل کولو لپاره د نهایي استیناف محکمې په توګه کار ته ادامه ورکولای شي. دا به تل د ټاکنو څارنه کوي. په نتیجه کې به د ټاکنو کمیسیون په هره کچه له ټاکنو سره تړلي شکایتونه پخپله وګوري. شکایتونه به لومړۍ د ټاکنو کمیسیون ته وړاندې کیږي له دې امکان سره چې وروسته به یوې بلې محکمې ته وړاندې شي او په نهایي توګه به د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته راجع شي. د شکایت په لومړي سره کې ارزونه د ټاکنو د ادارې نورمال عمل دی. د ټاکنو کمیسیون ته د شکایت وړاندې کول به د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشا دننه ظرفیت ته اړتیا لري او همدا راز د ټیټې کچې کمیسیون ته به هم اړتیا وي چې ټاکنیزې قضیې حل کړي.

وړاندیز شوي تغیرونه به ډیرې ګټې ولري. دا به په ولایتي کچه د شکایتونو د ولایتي کمیسیون اړتیا ختمه کړي، چې په نتیجه کې به یې لګښتونه راکم شي، د ټاکنیزو قضیو حل به اسان شي او د پریکړوحقوقی دوام به غښتلی شي. همدا راز، د ټاکنو تر منځ د یوې دایمي ادارې په حیث، به د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کم شمیر غړي ولري چې کولای شي خپل ظرفیت لاپسې ښه کړي، د شکایتونو په اړه پوهاوی زیات کړي، د ټاکنو په نورو کړنو کنترول پیدا کړي او د ټاکنیزو اصلاحاتو په راوستلو کې ونډه واخلي. په اوږدې مودې کې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د قضا په قوې کې هغه وخت شاملیدلاي شي چې پر محکمو د ټاکنیزو مسالو د حل په اړه باور او اعتماد زیات شي.

### ۲. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د کمشنرانو د ګمارلو د میکانزم بیا له سره کتنه

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د قانون د تعدیل له مخې، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کمشنران اوس یوازې د ولسمشر له پلوه د ملي شورا او ستري محکمې په مشوره ټاکل کیږي. د کمشنرانو ټاکل باید بیا وکتل شي او پراخه شي. د ټاکلو میکانزم باید یقیني کړي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون خپلواک، جامع، بې پرې او مسلکي دی او دا چې د ټولو همګټو باور له ځان سره لري.

پدې اړه هم فکر کیدلای شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید تر هغه یو څو نړیوال کمشنران ولري تر کله چې ددغې اداري په بې پرېتوب، خپلواکې، وړتیا او ظرفیت بشپړ باور نه وي منځته راغلی. په تیرو دریو دورو کې د نړیوالو شتون ددې اداري په اړه د خپلواکې او واک پراخ تفسیر وړاندې کړی. خو سره له دې، د نړیوالو کمشنرانو شتون بنایي د افغانستان د قضايي پریکړو کول کمزوری کړي او په پایله کې به داسې نه وي چې د استیناف میکانزم قضا ته واړول شي. له همدې کبله به دا مهمه وي چې د یو بشپړ افغاني میکانزم په لور ولاړ شي او په تدریجی بڼه د نړیوالو کمشنرانو حضور وباسي خو نړیوال باید په مشورتي ظرفیت کې موجود وي.

**۳. د ټاکنیزو تیریو په وړاندې قضايي ځواب پیاوړی کول**

له دغو بدلونونو سره موازي، ټاکنیزو تیریو ته قضايي ځواب بیا هم بنه کیدلای شي. په عمل کې، جدي ټاکنیزو تیریو ته د محاکمه کولو ډیر کم ځواب ویل شوی، [۲۳] خو بیا په دې کال کې هم یو لړ ګامونه اخیستل شوي دي. د درغلیو او تشدد ستري کچې ته په کتو سره، هغه عمومي حقوقي ګامونه چې باید د هغه کسانو په وړاندې اخیستل شوي وای چې جدي تیري یې تر سره کړي او باید محاکمه شوي وای او سزا ورکړل شوې وای خو داسې ونه شول او په پایله کې د بخښنې کلتور ته وده ورکړل شوه.

پداسې حال کې چې د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون د ټاکنیزو تیریو کوونکو ته سختې سزاګانې ټاکي خو د جزا په قانون او د جنايي جرمونو د اصولو په قانون کې داسې ښکاره میکانزم نشته چې څنګه باید د دا ډول قضیو څېړنه وشي او محاکمه شي. بدلونونه باید راوستل شي چې پیچلي او پر یو بل اوښتي قضايي احکام واضح شي چې پخپله نورو سنګینو جنايي جرمونو ته لار هواره وي. سربیره پر دې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته هم د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په څیر واضح واک ورکول کیدلای شي چې نیغ په نیغه قضیې محکمې ته واستوي.

**ث. د لومړیتوب دریمه ساحه: د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه د ټاکنو د سمون د یوې خپلواکې، مسلکي او بې پرې اداري جوړول**

پداسې حال کې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د پارلماني ټاکنو په ترسره کولو کې ښکاره غوره والی وښود خو بیا هم داسې هڅو ته اړتیا ده چې دا پرمختګ لاپسې پیاوړي کړي او د ولسوالیو او د رایې د ځایونو په کچه له ننګوونو سره په لا ډیره اغیزمنه توګه عمل وکړي. د داسې کولو لپاره لازمه ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کارکوونکو ټاکلو ته ادامه ورکړي، له خپلو وروستیو تجربو څخه زده کړه وکړي او د ظرفیت د لوړولو لپاره نور ګامونه پورته کړي. یو ستراتیژیک پلان باید جوړ کړي ترڅو د راتلونکی لپاره لومړیتوبونه په ګوته کړي، د سازمان جوړونه بیا له سره وکړي او اړینې منابع لاسته راوړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د تجهیزاتو په رسولو کې د نړیوالې ټولنې د مرستې ادامه ضروري ده تر څو وکولای شي په راتلونکي کې له نړیوالې مرستې پرته ټاکنې تر سره کړي.

داسې ډیرې ساحې دي چې د وروستیو پرمختګونو پر اساس د اوږدې مودې لپاره د ټاکنیزو اصلاحاتو سره په تړاو په پام کې نیول کیدلای شي. نومورې لاندې ساحې رانغاړي:

---

۲۳ لوی څارنوالی راپور ورکړ چې د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کال له ټاکنو وروسته هیڅ ډول تحقیق او محاکمې ندي ترسره شوي. د لوی څارنوال له معاون سره غونډه، ۱۴ اکتوبر ۲۰۱۰.

**د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ګمارنې د میکانزم اصلاح:** د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ګمارلو په پروسه کې، حقوقي بنسټونو ته اړتیا ده. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ټول غړي اوس مهال د ولسمشر له خوا پرته له تصویب یا څارنې ټاکل کیږي. د ټاکنې دا میکانزم باید بیا له سره وکتل شي او داسې اصلاح کړل شي چې بې پریتوب، خپلواکي، مسلکي توب، او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په کار کې باور رامنځته کړي. بې شمیره داسې ښې کړنې شته چې دا اصولونه پوره کولای شي. په میکانزم کې کیدلای شي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د ولسمشر له پلوه د نومول شویو کسانو لیست له پارلمان څخه تصویب شي. برعکس، پارلمان هم باید وکولای شي چې په خپل وار سره نوماندان وړاندې کړي چې ولسمشر یې ګمارنه توشیح کړي. داسې ډیرې لارې چارې شته خو د افغاني همکټو پورې تړلې دې چې تر ټولو مناسبه لار غوره کړي.

- **د روڼتیا زیاتوالی:** په پریکړو، کړنلارو، عملیاتو او پایلو کې روڼتیا پیاوړې کیدلای شي که چیرې د ټاکنو د کمشنرانو په مسلکي توب، بې پریتوب، او وړتیا او همدا راز د ټاکنیزې پروسې په سپیڅلتیا باور پیدا شي. دا په ځانګړې توګه د پایلو د ګډوډیدو، د پروسې په باطلیدلو او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټولو پریکړو سره په تړاو مهمه ده.

- **د سازماني څارنې تقویه کول:** د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سازماني خپلواکي پیاوړې کیدلای شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي چې په کړنلارو، د کارکوونکو په ګمارلو او بودیجه بشپړ کنترول ولري چې په نتیجه کې به یې پر اجرائیه قوې د هغې عملیاتي او مالي انحصار کم شي. همدا راز، چې کله ظرفیت لوړ شي نو له نړیوالو بسپنه کوونکو څخه د دوئ خپلواکي هم زیاتیدلای شي.

- **په ساحوي عملیاتو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کنترول پیاوړی کول:** په ساحوي عملیاتو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون له ډیرو ننګونو سره مخ شو. د بلواګرو او ځایي جنګ سالارانو د تشدد له امله د هیواد په ډیرو برخو کې امنیتي حالاتو عملیاتي کارونه ستونزمن او ځینې وختونه ناممکن کړل. فساد او د کړنلارو نه عملي کیدل عام دي. په ساحوي دفترونو د کنترول او د درغلی په وړاندې مبارزې کې مختلف ګامونه اخیستل کیدلای شي. په دغو ساحو کې پرمختګ تر ډیره حده په هیواد کې په ښه امنیت پورې تړلی دی.

په لاندې اقداماتو هم غور کیدلای شي:

- o په دوراني توګه د ټاکنو ترسره کول، د بیلګې په توګه یوازې په څو ولایتونو کې په یو وخت کې ټاکنې ترسره کول ترڅو د منابعو او څارنې تمرکز په هماغو ولایتونو وي؛
- o د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د حقوقي واک ورکول تر څو د ټاکنو د تیریو په وړاندې بندیزونه ولګوي او وقایوي اقدامات ترسره کړي، پدې شرط چې د ټاکنو د شکایتونو له کمیسیون څخه د استیناف غوښتې حق ولري؛
- o په جدي توګه د ټاکنو هغه مامورین محاکمه کړي چې په ټاکنیزو تیریو کې ښکیل دي ترڅو داسې پیغام ورسول شي چې نور نو درغلۍ نشي زغمل کیدلای؛
- o د ښځینه کارکوونکو شمیره دوه چنده کړي او داسې کړنلارې وضع کړي چې امکاني درغلیو ته د نوملیکنې په پروسه او د ښځینه رایې اچولو په ځایونو کې ځواب وویل شي؛
- o د ټاکنو په ورځ اضافه اقدامات ترسره شي ترڅو د رایو امنیت یقیني شي.

**ج. د لومړیتوبونو څلورمه ساحه: د ټاکنیزې سپیڅلتیا د یوې جامع نوملیکنې د منځته راوړلو په موخه**

د یوې جامع او دقیقې نوملیکنې منځته راوړل چې له مخې یې د رایې اچولو ځایونو کې لیستونه موجود وي، د ټاکنیزې سپیڅلتیا ساتنه وکړي، او د رایې اچولو ځایونو ته د رایې ورکوونکو په ځانګړې کولو سره ټاکنیز موثریت غښتلی کړي. خو سره له دې، وروسته له دومره هڅو او منابع چې لګول شوي، اوس هم د رایې اچولو ځایونو کې د رایې ورکوونکو لیست نشته. له راجستر شویو ډیرې کسانو څخه ډیرو ته یې لاهم د رایې اچونې ځای نه دی ورکړل شوی او په وروستیو نوملیکنو کې هم د ادرس معلومات له ولایتي کچې څخه پورته د اعتبار وړ نه و. په میلونو داسې د رایې اچونې کارتونه موجود دي چې رایې ورکوونکي نه لري،[۲۴] ډیری کارتونه عکسونه نه لري،[۲۵] چې افادیت یې محدودوي.

---

۲۴ پداسې حال کې چې په ۲۰۰۳ کال کې د رایو ۱۶،۷۸۳،۳۴۹ کارتونه وویشل شول، د احصائیو مرکزي دفتر په ۲۰۰۹ کال کې د ۱۱ میلونو مستحقو رایه اچوونکو راپور ورکړ.

۲۵ ښځینه رایې ورکوونکو ته دا شرط نه و چې د رایو په کارتونو خپل عکس ونښلوي.

که څه هم لاتراوسه ازمویل شوې نده خو په دې نږدې کې د نوملیکنې لپاره د بایومترک (انفرادی مشخصاتو) معلومات د راغونډولو راپور ورکړل شو چې نیمګړي معلومات یې درلودل او دا توپیر یې نه درلود چې د څوځلي نوملیکنې مخه ونیسي. پداسې حال کې چې په تیرو کلونو کې راجستر کولو یو څه ګټه درلوده خو د اوسني سیستم نور استعمال به ګټه ونلري. د نوملیکنې لپاره باید یوه نوې پروسه پیل شي.

د نوملیکنې لپاره اساسي اصول د دقیقو معلوماتو راټولول، د پروسې جامع کیدل، د پروسیجر ساده کیدل او خلکو ته د اسانتیاوو برابرول دي. پدې باندې باید ښکاره توافق واوسي چې کومه اداره د نوملیکنې مسؤلیت په غاړه لري، پروسه په څه ډول پرمخ ځي، او همداراز د تازه معلوماتو او پلټنې لپاره څومره فرصتونه موجود دي. د لګښتونو، دوام او ترمیم د شرطونو په اړه هم باید غور وشي. نوملیکنه یوه ډیره پیچلې مساله ده؛ له همدې کبله دا ډیره مهمه ده چې د نوی نوملیکنې د تطبیق لپاره یو تفصیلي پلان جوړ کړل شي.

دوه مرکزي او عمده اختیارونه اوس مهال په واک کې شته: ۱) د رایې اچوونکو نوملیکنه د عامه ثبت سره ونښلول شي[۲۶] یا ۲) یوه یوازې نوملیکنه ترسره شي.

**<u>د ملکي/رایه ورکوونکي راجستر:</u>** د ملکي نوم لیکنې په اختیارونو کې، د مخابراتو وزارت او معلوماتي ټیکنالوژۍ (IT) او د کورنیو چارو وزارت یوه پروژه منځته راوړې چې له مخې یې داسې ملي پیژندپاڼه (تذکره) جوړه کړي چې یوه مرکزي د ثبت شمیره او بایومترک (انفرادی مشخصاتو) معلومات به ولري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ملکي نوم ثبتوني د پلان جوړوني په مرحله کې دخیل واوسي ترڅو ارزونه وکړي چې آیا د رایې ورکوونکو د نوملیکنې له اړتیاؤ سره متناسبه ده کنه. که چیرې پیژندپاڼه (تذکره) د رایې اچونې رسمي سند ګرځي نو نوموړې پروژه دې د لاندې ټکو په اړه غور وکړي:

- دوامیت (د ارزښت اغیزمنتوب، د معلوماتو د ساتلو او د تازه معلوماتو د ورزیاتولو وړتیا)
- د قانوني حق د له منځه وړلو خطر که چېرې ټول رایې اچوونکي د رایو کارتونه ونلري.
- د درغلي امکانات (د یو مبالغه شوي لیست یا د ښځینه و لپاره د عکس لګول لازمي نه ګڼل چې د بل چا په ځای رایه واچول شي) او
- د رایې اچوونکو لیست ته د معلوماتو د اړولو د کار اړتیا (د تفصیلي ادرس اړتیا تر اخیري ټکي ترڅو د رایې اچوونکو لیست ترتیب کړل شي په امکاني توګه د ټولو وګړو معلومات وویستل شي چې عمرونه یې له ۱۸ کلونو زیات دي.

دا ډول بشپړه ارزونه باید د یوې ګډې یا تنها نوملیکنې د منځته راوړلو لپاره یو بنسټ واوسي.

**<u>یوازې نوملیکنه:</u>** که چیرې داسې ارزونه منځته راشي چې هغه معلومات چې د ملي پیژندپاڼې (تذکره) د پروژې لپاره ټول شوي و د رایې اچوونکو د نوم لیکنې لپاره مناسب نه و، نو یوه "تنها" نوملیکنه دې ترسره شي. نوې نوملیکنه باید په هغو درسونو په درنه توګه تکیه وکړي چې د نوملیکنې په پروسو کې یې له ۲۰۰۴ کال څخه زده کړي دي. د ادرسونو او قوي روزنو او کنترول لپاره د یو سیستم منځته راوړل د بریالیتوب لپاره اړین دی لکه څنګه چې دوره ئي نوملیکنه له هرې ټاکنې د مخه ضروري ده (د مړه شویو رایې اچوونکو نومونه ویستل، د لاډیرو ګرځنده وګړو دقیقه نوملیکنه، د نویو رایې اچوونکو داخلول).

اوسني معلومات چې په تیرو نوملیکنو کې راټول شوي و، کفایت نه کوي نو له همدې کبله باید د معلوماتو یو نوی سیستم منځته راوړل شي. د داوم لرونکي حل په اړه باید جدي فکر وشي د بیلګې په توګه د ابتدائي او روانو لګښتونو په وړاندې د بایومترک(انفرادی مشخصاتو) معلوماتو راټولولو ګټه. د ثبتولو لپاره پروسیجر هم باید د تیر په پرتله زیات جدي واوسي. پداسې حال کې چې د دوه ځلي تګ راتګ غوښتنه له رایې اچوونکي[۲۷] څخه ډیره زیاته ده خو له دې سره به د تصدیق کولو لاره اسانه شي او پدې ترتیب به د جعلي نوم لیکنې مخه ونیول شي چې اوس مهال روانه ده.

---

۲۶ د ۲۰۰۶ کال د لندن کانفرانس کې توافق وشو چې *"یوه دایمي پیژندپاڼه د ملکي او رائې اچونې لپاره منځته راوړل شي."* د کورنیو چارو وزارت او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د امتحاني پروژې په تعقیب سره (له نړیوالې مرستې سره) د وزیرانو شورا پریکړه وکړه چې ملکي نوملیکنه د رایې اچوونکو له نوملیکنې څخه جلا کړي.

۲۷ رایې اچوونکي لومړی ثبت کیږي او بیا دویم ځل د کارت اخیستلو پسې راځي.

همداراز به له دې لارې د معلوماتو کيفيت يقيني شي چې معلومات به له رارسيدو سره سم اصلاح کړل شي. له ټولو ښځو څخه بايد وغوښتل شي چې د نومليکنې په کارتونو عکس ولري ترڅو د درغلی مخنيوی وشي. په پايله کې ويلی شو چې ترهغه چې د ناامنی اوسنی کچه روانه وي نو ساحوي کړنې به ښائي د هرې نومليکنې لپاره د اساسي ننګوونې په حيث په خپل ځای پاتې شي.

له ټاکل شويو انتخابونو سره بې له تړاوه، د يوې ښې نومليکنې پروسه ښائي د څوکلونو پروژه واوسي او ډېرو منابعو ته به اړتيا ولري او داسي نه برېښي چې له راتلونکو ټاکنو دمخه به په کار واچول شي. له همدې کبله ضروري ده چې يو منځ مهالی حل پيداکړل شي ترهغه چې د رايې اچوونکو نومليکنه په بشپړه توګه عملي کيږي.

**<u>د يو منځ مهالی حل ضرورت:</u>** اوسنی سيستم غيرمطمن دی ځکه چې د رايې ورکوونکو ليست نشته او د رايو کارتونو خپله وړتيا له لاسه ورکړې چې د امنيتي ساتنې سمبول وګڼل شي. د زړو معلوماتو جزوي تازه کول به کفايت ونکړي ځکه چې له امله به يې د رايې په ځايونو کې د رايې ورکوونکو ليست منځته رانشي او ښائي چې د رايو کارتونو لاډېر شمير استعمال کړل شي. يوازې يو نوی سيستم په بشپړ ډول کولای شي لږترلږه د يوټن لپاره د يوکارت ورکول يقيني کړي. خو بيا هم دا اختيار به قيمته وي، پلي کول به يې ستونزمن وي، زيانمن به وي او هم ښائي چې مغشوش کوونکی وي که چيرې د اوږدې مودې د نومليکنې سيستم له دې سره يوځای منځته راغلای وای. په پايله کې کيدلای شي د لنډې مودې لپاره ټاکنې د رايو له کارتونو پرته ترسره شي. د رايو د کارتونو او د رايې اچوونکو له ليستونو پرته به بيا په داډول ټاکنو کې د درغلی د مخنيوي لپاره په ټوله کې په نورو لارو چارو تکيه کيږي، په ځانګړې توګه رنګ، او همدا راز به د رايې ورکوونکو په اړه قوي کمپاين او همدا راز د رايې اچوونې د کارکوونکو روزنې ته اړتيا وي.

**. د لومړيتوب پنځمه ساحه: د منل شويو ټاکنيزو سرحدونو ټاکل**

سرحدونه د ټاکنيزو حوزو د ټاکلو لپاره ضروري دي او هم ددې لپاره چې د وګړو رايې به هلته شميرل کيږي. په سمه توګه رابښکل شوي سرحدونه د رايو د مساوات د اساسي اصول ساتنه کوي.[۲۸] پداسې حال کې چې د هر ولايت په سرحدونو موافقه شوې ده، خو د ولسواليو او ټيټې کچې سرحدونه (لکه ښاروالی او کلي) لاتراوسه ندي معلوم شوې[۲۹]

د ټاکنيزو سرحدونو لپاره عملياتي کاري چوکاټ لاتراوسه منځته ندی راغلی. د ډيرو ادارو په ښکيلتيا سره لکه د محلي ارګانونو خپلواک اداره، د ټاکنو خپلواک کميسيون، د احصائيو مرکزي اداره، او د افغانستان د جيوديزي رياست، لومړی بايد سازماني مسؤليتونه واضح کړل شي.

د معلوماتو د راغونډولو ميتود هم بايد واضح کړل شي. له سرشميرنې[۳۰] څخه راټول شوي د نفوسو معلومات د اساس په توګه استعماليدلای شي. خو لپاره ددې چې د نفوسو معلومات د سرحدونو د معلولومولو يا د رايو د نوم ليکنې لپاره ګټه ور واوسي نو بشپړ ادرس يا د جي پي اس شميرې ته اړتيا ده. لکه څرنګه چې موجوده معلومات نيمګړي دي او پداسې حال کې چې د ناامنی له امله په ساحه کې ستونزې ډيرې دي، نو د نفوسو تخميني اندازې بايد په کار واچول شي.

هرکله چې د عمومي کاري چوکاټ پر سر موافقه ترلاسه شي، نو په لاندې موضوع ګانو غور کيدلای شي:

- **<u>يو سم حقوقي اساس ته اړتيا:</u>** د سرحدونو د ټاکلو لپاره پروسه بايد په اساسي (ابتدائی) قوانينو کې ياده شي. قانوني احکامو ته اړتيا ده ترڅو صلاحيتونه واضح شی او د هغه ميکانزم ملاتړ وشي چې استعمال شوي دی. د عامه وګړو په ونډه بايد تأکيد وشي ترڅو په پروسه باندې باور پيداشي او سرحدونه د حقايقو په رڼا کې منځته راشي.

---

۲۸ د رايې مساوات پدې مانا چې د هر رايې اچوونکي رايه برابر وزن لري. د ښکاره سرحدونو او د سرحدونو دننه د رايه ورکوونکو کره نومليکنې پرته، دا نشي يقيني کيدلای چې د يو ولايت يا ولسوالی دننه د رايو شميره د يو بل ولايت سره برابرې دي.

۲۹ د کليو د شمير په اړه مختلفې اندازې لګول کيږي. د احصايو مرکزي اداره د کليو شمير ۴۵۰۰۰ تخمينوي. خو د جيوديزی اداره دا شمېره ۴۹۰۰۰ ښئي.

۳۰ تيرځل سرشميرنه په ۱۹۷۹ کې ترسره شوې وه (او يوازې ٪۶۵ بشپړه شوه). د وزيرانو شورا پريکړه کړې چې په ۲۰۱۲ کال کې سرشميرنه ترسره کړي او که چيرې مهالوېش پلی کړل شي نو ابتدائي پايلې د ۲۰۱۲ کال په پای او نهائي پايلې په ۲۰۱۴ کې راتلای شي.

- **د سرحدونو د یوې خپلواکي او بې پرې اداري جوړول:** ددې لپاره چې پروسه سیاسي نکړل شي، نو یو بې پرې سازمان ته اړتیا ده چې سرحدونه وټاکي. دا کیدلای شي چې د سرحدونو د ټاکلو یو خاص کمیسیون ته وسپارل شي، د بیلګې په توګه، یو داسي کمیسیون چې د پارلمان له پلوه وټاکل شي او د ولسمشر له پلوه توشیح شي او یا یو داسي کمیسیون چې غړي یې له یو شمیر سرچینو څخه وټاکل شي لکه پارلمان، اړونده وزارتونه او مدني ټولنې.

- **د دوره ئي بیا کتنې منځته راوړل:** د افغانستان د دیموګرافی د داینامک تدریجي پرمختګ له امله به دا په ځانګړې توګه مهمه وي او دا چې اوسنی سرحد ټاکنه ښائي محدوده واوسي ځکه چې د نفوسو معلوماتو ته سم لاس رسی نشته.

- **د سرحدي لانجو د هوارولو لپاره د میکانزم جوړول:** دا حساس کار باید یوې خپلواکي اداري ته وسپارل شي. د بدیل په توګه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته دا ډول واک ورکول کیداي شي.

- **په بشپړ ډول ملاتړ شوی او منابع ورکړل شوی:** کافي وخت، مناسبي ذرایع او دوام لرونکي تخنیکي مرستو ته اړتیا ده ترڅو د سرحدونو د ټاکلو میکانزم منځته راوړل شي، دنفوسو اندازه ولګول شي او د سرحدونو معلومول ترسره شي په ځانګړې توګه په دا ډول ننګوونکو حالاتو کې.

## ق. د لومړیتوب شپږمه ساحه: د اغیزمنو سیاسي ګوندونو تقویه کول

سیاسي ګوندونه د هرې لړزنده ولسواکۍ یو عمده برخه تشکیلوي. ګوندونه وګړو ته یو وسیله برابروي ترڅو د یو ځای کیدلو له آزادی او د حکومت او په عامه غونډو کې له برخه اخیستلو څخه خوند واخلي. که څه هم سیاسي ګوندونه په افغانستان کې اوږد تاریخ لري خو سیاسي غونډې یا یوځاي کیدل تل کمزوري ول.[۳۲] د سیاسي چاپیریال رامنځته کیدل دداسي اشخاصو له خوا ترسره کیږي چې پیاوړې کورنۍ او قومي اړیکي ولري او همدا راز د ساتنې ملاتړي شبکي منځته راوړي چې کولای شي د پام وړ اغیز منځته راوړي. ناامنه چاپیریال او د ګوندونو په اړه د خلکو منفي نظر، سیاسي ګوندونو ته ننګوونې راولاړوي چې ملاتړي پیدا کړي، له خپلو غړو سره قوي اړیکي ونیسي، او خپل ځان منظم کړي او پروګرامونه جوړ کړي او داخلي دیموکراسي منځته راوړي.

### ۱. د ټاکنیز سیستم بیا له سره کتنه

اوسنی ټاکنیز سیستم له ځینو اړخونو د ګوندونو د پرمختګ مخه نیسي. یوازې ۱،۷٪ کاندیدانو د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د ګوندونو په ټکټ ځانونه کاندیدان کړي و، چې یوه اشاره وه چې سیاسي ګوندونه په افغانستان کې څومره حاشیه وي رول لوبوي. د سیاسي ګوندونو د کمزورۍ یو سبب د واحدې ناقابل انتقالي رایي د سیستم [33] استعمال و چې د سیاسي ګوندونو د پرمختګ د مخنیوي یو فکتور ګڼل کیږي.

پداسي حال کې چې د ټاکنیز سیستم انتخابول د یو خپلواک هیواد پریکړه ګڼل کیږي[۳۴] خو ټاکنیز سیستم ته یوه هراړخیزه او جامع بیاکتنه کولای شي چې د هغې ګټې ارزیابي کړي او هم یې دا ارزښت معلوم شي چې آیا دا د افغانستان له پالیسیو سره سر خوري کنه او داچې آیا باید بدلون دې پکښې راوستل شي کنه.

پارلمان باید د قانون جوړوني په دایره کې یو مخکښ رول ولوبوي او په مشورتي او شفافه توګه د ټاکنو سیستم بیا له سره وګوري. هغه سیاسي ګوندونه چې پارلماني څوکۍ نلري هغوئ هم باید په بحث کې شامل کړل شي. نور همکټي کیدلاي شي چې د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د مدني ټولنو سازمانونه چې په ټاکنو، د جندر په مسالو، حکومتدارۍ او ولسواکۍ کار کوي، او همدا راز نژادي او نورې ډلې چې په پارلمان کې استازي نلري، و اوسی.

---

۳۱ د ګوندونو یوازې یو وړوکی شمېر د غړیتوب تعریف لري چې پالیسی جوړونې، وکالت او د کانفرانسونو په نیولو کې فعال دي.

۳۲ د راپورونو پراساس ددې یو لامل د روسانو پروخت د کمونستي ګوند او وروسته د مجاهدینو ګوندونو منفي ادراک و.

۳۳ د واحدې ناقابل انتقال رایې پربنسټ ټاکونکي یو کاندید ته رایه ورکوي او هغه کاندیدان چې ډېرې رایې ترلاسه کړي، ټاکل کیږي

۳۴ د ۲۵ عمومي تبصرو، ۲۱ پارګراف وائي چې سره له دې چې کنوانسیون کوم ځانګړی ټاکنیز سیستم نه تحمیلوي خو هرهغه سیستم چې په یو ایالت کې پلی وي باید له هغو حقونو سره سمون وخوري چې د ۲۵ مادې له لارې ساتل شوي دي او باید ټاکونکي په ازادنه توګه خپله اراده استعمال کړي.

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون یو ځانګړې ټاکنیز سیستم نه وړاندې کوي بلکه وائي چي څوکی باید هغه کاندیداتو ته ورکړل شي چي تر ټولو زیاتي رایې تر لاسه کوي.[۳۵] که څه هم د ټاکنیز سیستم بدلول پدې معني ندی چي قانون هم باید بدل کړل شي، خو دا کیدای شي چي د خوښې وړ وي چي د نوي سیستم لپاره یو حقوقي چاپیریال رامنځته کړي.

د بدیل ټاکنیز سیستم د ارزوني لپاره د اساس په توګه لاندي ټکي په پام کي نیول کیدلای شي:

- د اوږدې مودې سیاسي او حکومتداری اهداف او موخې.
- د نړیوالو حقوقي وجایبو سره سم له یو وړاندیز شوي سیستم سره نخلیدل.
- هغه کچه چي یو سیاسي اتحاد هڅوي او سیاسي ګوندونو ته وده ورکوي.
- څه ډول به یو وړاندیز شوی سیستم دا قانوني اړتیا یقیني کړي چي ۶۸ څوکۍ په پارلمان کي د ښځو لپاره دي او هم لا ډیرې ښځې وندې اخیستنې ته وهڅوي.
- وړاندیز شوی سیستم به د رایه اچوونکو لپاره څومره اسان وي چي پرې پوهی شي.
- وړاندیز شوي سیستم به اداره کوونکي ته څومره اسان، ارزان او دوام لرونکی وي.
- تر کومې کچې به سیستم وکولای شي چي د مخالفو نژادي ډلو ترمنځ تفاهم ښه یا خراب کړي.

## ۲. له ګوندونو سره مرسته ډیرول

له دې سره سم هغه هڅې بایدي ډیرې شي چي له مخې يې له ګوندونو سره مرسته کیدلای شي. ځانګړی تأکید باید د سیاسي ګوندونو پر مهارتونو او تسهیلاتو ترسره شي ترڅو د پارلمان دننه او بهر په اغیزمنه توګه خپل فعالیتونه ترسره کړي. نورې ساحي کیدلاي شي چي سازماني نښلیدنه، پالیسي ګانې او مرامنامې، خبرې اترې او ایتلاف له نورو احزابو سره او خپل منځې، د ځارنې کړنې، د اپوزیسیون رول او د ښځو ګډون کیدلای شي. دا به هم مهمه وي چي د داخلي دیموکراتیکو جوړښتونو او مشقونو ملاتړ وشي. پرته له دا ډول مرستي به د افغانستان بې تجربې ګوندونو ته دا ستونزمنه وي چي په دومره جدي سیاسي چاپیریال کي پرمخ ولاړ شي او پیاوړي دیموکراتیک مشقونه منځته راوړي.

## ۳. د پارلمان پیاوړې کول

پارلمان هم د اوږدې مودې مرستي ته اړتیا لري ترڅو د یوې داسي اداري په حیث خپلې دندې ته دوام ورکړي چي روغ قوانین جوړ کړي او د اجرائیه قوې په اغیزمنه توګه څارنه وکړي. د مرستې مختلفې کړنې باید لاپسې زیاتې شي لکه د دارالانشأ د څیړنې او د ظرفیت لوړوالی، او استازو ته لارښوونه او روزنه ترڅو سازماني او انفرادي پوهاوی د قانون جوړوني په څیر کارونو کي زیات کړل شي. پدې کي د دارالانشأ له پلوه د خبرو اترو ترسره کول (مشاوری کول)، د ماهرینو مرسته په نړیوالو وجایبو او ښه مشقونو، او د څیړنې د ظرفیت په اړه مرسته کیدلای شي. ټاکنیزو اصلاحاتو ته په پام سره، پارلمان ته ځانګړې پاملرنه کیدلای شي چي دغه موضوع ته ځواب ووائي.

## ل. د لومړیتوب اوومه ساحه: د ټاکنو د کره کتني لپاره د محلي څارنې د ټاکنو د یوې مهمې وسیلې په توګه پیاوړې کول

ځائي څارونکي د ټاکنو د پروسي اړین کتونکي بلل کیږي. دا ډول کره کتنه د واقعي معلوماتو د راټولولو، په سیستم د باور د پیداکولو او د ښه والي لپاره د وړاندیزونو ورکولو لپاره ډیره حیاتي ده. د ځائي څارنې اهمیت د افغانستان په څیر ننګوونکي چاپیریال کي د ټاکنو د ترسره کولو لپاره څو واری زیاتیږي. د سیاسي ګوندونو کمزوري پدې دلالت کوي چي د مدني ټولنو د سازمانونو له پلوه باید د ټاکنو پروسه لاډیره په جدي توګه وڅارل شي. د امنیتي حالاتو له امله هم ویل کیدای شي چي نړیواله څارنه یا کمزوري ده او یا له سره نشته چي نوره هم دا غوښتنه زیاتوي چي ځائي، باوري او بې پرې څارونکو ته لازیاته اړتیا ده. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۱۵ ځائي څارونکو سازمانونو ته په ۲۰۱۰ کال کي اجازه ورکړه. فیفا، چي تر ټولو ستره ځائي څارونکي ډله ده، یو مهم رول د حقایقو په راټولولو، د واقعاتو په ثبتولو او جوړونکي تبصرې، تحلیل او سپارښتني وړاندې کوي.

---

۳۵ د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون، ۲۲، ۲۹، ۳۲ او ۳۵ ماده

**د ځارونکو حقونه او مسؤلیتونه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو کره کتنه د ځائي ځارونکو په مرسته ترسره کولای شي چې د ځارونکو په دستورالعمل کې د ځارونکو حقونه ورګډ کړي.[۳۶] د ځارونکو دا ډول حقونه په اساسي قوانینو کې هم ساتل کېدلای شي.

**د مدني ټولنو د سازمانونو رول پراخول:** مرسته کوونکې کولای شي د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د نادولتي سازمانونو ملاتړ وکړي. تحلیلي مهارتونه د نړیوالو روزنو له معیارونو او د ټاکنو له بنه مشقونو په ترسره کولو سره ترلاسه کېدلای شي. د دیموکراتیکې پروسې د کتونکې په حیث، دوئ هڅول کېدلای شي چې د پارلماني کړنو د ځارلو او مدافعې لپاره لاډېر فعال رول ولوبوي.

**د فیفا داخلي جوړښت پیاوړی کول او د هغې ظرفیت لوړول:** فیفا باید لاپسې قوي کړل شي پداسې حال کې چې هغه خپله ستراتیژي منځته راوړي ترڅو خپل جوړښت سازماني کړي او خپلې کړنې پراخې کړي. دا کولای شي خپل داخلي مدیریت او پروسې د بهرني اداري ملاتړ، له همسیالو څخه زده کړې، او په نورو هیوادونو کې له ځائي ځارونکو ډلو سره د اړیکو په نیولوسره یې لاپسې غښتلې کړي. پدې کې د ټاکنو په ځانګړو اړخونو تمرکز کول، لکه د کمپاین لګښتونه، رسنۍ یا د رایې اچونې د ځایونو تبصرې شاملې دي.

**د اوږدې مودې مالي ملاتړ:** په افغانستان کې د دیموکراتیک پرمختګ سره په تړاو د مدني ټولنو سازمانونو د جدي رول په پیژندلو باید نړیواله ټولنه د اوږدې مودې لپاره له داسې سازمانونو لکه فیفا او د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک سازمان سره د مرستو ژمنه وکړي ترڅو یوه پیاوړې، فعاله، مسؤلیت لرونکې او د ګڼ شمیر اقلیتونو لرونکو مدني ټولنه منځته راوړي. مرستې باید د حساب بشپړ میکانزم ولري چې له معیارونو سره تړلې وي او ټولې مرستې باید له بهرنی ارزونې سره تړلې وي.

## لومړۍ ضمیمه: نړیوال اصول او په د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستې او ملا تړ تیم (OSCE/ODIHR) وړاندیزونه

### د لومړیتوب لومړۍ ساحه: د ټاکنو د حقوقي کاري چوکاټ اصلاح کول

**الف. نړیوال اصول:**

له ټاکنو سره په تړاو افغانستان د یو لړ نړیوالو تړونونو برخه دی. پدې کې د مدني او سیاسي حقونو نړیواله کنوانسیون (ICCPR)[۳۷]، د نژادي توپیر د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (ICERD)[۳۸] او د ښځو په وړاندې د هر ډول توپیر د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW)[۳۹] شامل دي. افغانستان د ملګرو ملتونو د هغو هیوادونو له ډلې څخه دي چې د ۱۹۴۸ کال د دسامبر پر ۱۰ نیټه یې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه لاسلیک کړه. د افغانستان اساسي قانون دغه نړیوالې ژمنې په افغاني قوانینو کې رانغاړي. اوومه ماده وایي چې *"دولت به د ملګرو ملتونو له منشور، نړیوالو تړونونو، او هغو نړیوالو کنوانسیونونو او د بشر د حقونو له نړیوالو اعلامیو سره سم عمل کوي چې افغانستان لاسلیک کړي..."*

هغه وجایب چې د بشر د حقونو په جهاني اعلامیه (UDHR) او د مدني او سیاسي حقونو نړیواله کنوانسیون (ICCPR) کې راغلي، د ټاکنیزې پروسې لپاره اساس جوړوي. اساسي معیارونه د مدني او سیاسي حقونو نړیواله کنوانسیون (ICCPR) په ۲۵مه ماده او د بشر د حقونو د جهاني اعلامیې (UDHR) په ۲۱مه ماده رانغښتي، خو سره له دې د ټاکنو سره په تړاو یو شمیر احکام شته، د بیلګې په توګه اساسي خپلواکي چې د یوې جمهوري پروسې مرکزي ټکي جوړوي.

د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون (ICCPR) ۲۵مه ماده د اتباعو د حقونو په اړه داسې وایي:

---

۳۶ د ځارونکو طرزالعمل یوه برخه د حقونو او مسؤلیتونو په اړه لري خو دا برخه یوازې مسؤلیتونه لري. حقونه په هیڅ توګه ندي بیان شوي، لکه ځارونکو، استازو او راپورچیانو ته د بشپړ لاس رسي برابرول.

۳۷ افغانستان په کال ۱۹۸۳ د جنوری په ۲۴ د ICCPR غړی شو

۳۸ افغانستان په کال ۱۹۸۳ د اګست په ۵ د ICERD تړون تصویب کړ.

۳۹ افغانستان په کال ۱۹۷۹ د دسامبر په ۱۸ د CEDAW تړون تصویب کړ.

*په عامه اړيکو کې برخه واخلي که نيغ په نيغه وي او يا هم په خپلواکه توګه د ټاکل شويو استازو له پلوه" ، "چې رايې ورکړي او له مهالوېشي او رېښتينې ټاکنو سره سم وټاکل شي چې په جهاني توګه منل شوي وي او په مساوي توګه د راي ورکولو حق ولري چې په سري توګه واوسي،â ǻą د ټاک Ấ د ăü ǝ ȃ ارادې تضمين وکړي.*

د نژادي توپير د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون (ICERD) ۵ مه ماده داسې وايي:

*د دولت ګوند ژمنه کوي چې د هر ډول نژادي توپير مخه ونيسي او له منځه يې يوسي او د هرچا د حقونو تضمين وکړي، پرته له دې چې نسل، رنګ، يا قوم يا نژادي سرچينه په پام کې ونيسي، چې د قانون په وړاندې مساوي واوسي، په ځانګړې توګه د لاندې حقونو څخه د خوند په اخيستلو کې: ...*

*(C) سياسي حقونه، په ځانګړې توګه په ټاکنو کې د برخې اخيستلو حقونه – چې رايې ورکړي او رايې اخيستلو ته ودريږي – د جهاني او د رايې ورکولو برابر حق پر بنسټ، چې په حکومت کې او همدا راز په عامه چارو کې په هره کچه برخه واخلي او دا چې عامه خدمتونو ته يوشان لاس رسى ولري ....*

د ښځو په وړاندې د هر ډول توپير د له منځه وړلو کنوانسيون (CEDAW) داسې وائي:

*"ټول مناسب اقدامات بايد ترسره شي تر څو د ښځو په وړاندې په سياسي او عام ژوند کې هر ډول توپير له منځه يوړل شي." [۴۰] " لنډمهال ځانګړي اقدامات چې موخه يې د نارينه و او ښځو تر منځ د حقيقي مساوات رامنځته کول وي، توپير نه ګڼل کيږي." [۴۱]*

**ب. د ۲۰۰۹ کال د وړانديزونو پر بنسټ د ټاکنيز حقوقي کاري چوکاټ اصلاحات**

- بيړني قانوني او حقوقي تعديلونو ته اړتيا ده چې په راتلونکې کې ټاکنې ترسره شي *(د ۲۰۰۹ کال لومړی وړانديز)*

- د ټاکنو د لومړيتوب موضوع ګانې چې بايد په قانوني اصلاحاتو کې ورته پام وشي په شمول د ټاکنيز تقويم جوړول، او همدا راز هغه تعديل چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کمشنرانو د ټاکلو ميکانيزم لاپسې پراخ شي. *(د ۲۰۰۹ کال دريم وړانديز)*

- د قانوني اصلاحاتو د موضوع ګانو لومړيتوبونه په لاندې توګه دي:
  - o ټاکنيز سيستم.
  - o د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کمشنرانو د ټاکلو ميکانيزم.
  - o د روڼتيا اړتيا، لکه د رايو د ټولو ځايونو د معلوماتو خپرول (د ناسمو رايو په ګډون).
  - o د ټاکنو د خپلواک کميسيون او شکايتونو د کميسيون د اړوند رول او مسؤليتونو په اړه ښکاره حکم.د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون ته بايد د څيړنې او باطلولو واک ورکړل شي.
  - o د شکايتونو د کميسيون د کار د دوام لپاره احکام.
  - o هغه موضوع ګانو ته بايد پام واړول شي چې اوس مهال د ټاکنو خپلواک کميسيون ته په امتيازي ډول له قاعدې سره سم پريښودل شوي لکه د کانديدانو لخوا د نوم بيرته اخيستل.
  - o د رايې ورکوونکو د نوم ليکنې اړتياوې.
  
  *(د ۲۰۰۹ کال ۴ وړانديز)*

- د ټاکنو نوي قانون بايد يو څه موضوع ګانې راونغاړي چې تر اوسه فرمانونو، قواعدو او پريکړو ته پريښودل شوي تر څو د هغو حکمونو مخه ونيول شي چې په ناسمه توګه پلي شوي دي او همدا راز يو متحد حقوقي سند چمتو کړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۵ وړانديز).*

---

۴۰ د CEDAW اومه ماده
۴۱ د CEDAW ۴.۱ ماده

- په حقوقي ډول بايد دا يقيني کړل شي چې کومه اداره د اساسي قانون د تشريح مسؤليت په غاړه لري. د سترې محکمې رول هم بايد د ټاکنو سره په تړاؤ واضح کړل شي او هم بايد هغه حالات واضح کړل شي چې له مخي يې ستره محکمه مداخله کولاي شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶ وړانديز)*

- قوانين ښايې زر تر زره تصويب کړل شي تر څو د ولايتي او ولسواليو شورا ګانو د اجراآتو لپاره اړين منابع په قانوني توګه تر لاسه شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۷ وړانديز)*

- د سياسي ګوندونو نوی قانون بايد د ځينو مسلکونو پر غړو بې ځايه بنديزونه ونه لګوي چې د يو حزب غړي شي او بايد اتباع منع نه کړي چې له يو ګوند څخه د زياتو ګوندونو غړي واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲ وړانديز)*

- د ټاکنو د خپلواک کميسيون د نوي قانون د جوړښت له مخې بايد د دغه کميسيون د کمشنرانو د ټاکلو په ميکانيزم جدي غور وشي تر څو پراخې مشورې يقيني کړل شي، د کميسيون خپلواکي او استازيتوب او په ټاکنو د وګړو باور لاپسې زيات شي. پدې کې له پارلمان څخه مشوره، تجديد نظر او يا د هغو کانديدانو تاييد شامل دي چې د ولسمشر له پلوه معرفي کيږي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۷ وړانديز)*

- د ټاکنو د کميسيون د دارالانشأ رئيس بايد يوازې د ولسمشر له پلوه ونه ټاکل شي بلکه بايد هماغه همګټي پدې کې هم دخيل واوسي چې د کمشنرانو په ټاکلو کې ورڅخه ګټه اخيستل شوې وه. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۸ وړانديز)*

- د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد له ټاکنو وروسته يو راپور چمتو کړي چې ووايي چې څه يې زده کړي او د ښه والي لپاره څه وړانديزونه لري. د دغه راپور د برخي په توګه، د ۲۰۰۹ کال ټاکنو ته بايد د ټاکنو خپلواک کميسيون له قواعد او پريکړو سره په پام کې بيا له سره کتنه وشي ترڅو تيروتنې، بې ثباتي او د هر ډول روڼتيا نشتوالي په ګوته شي او له نورو ټاکنو د مخه اصلاح کړل شي. نوموړې کره کتنه بايد دې ته هم اشاره وکړي چې کومو پريکړو کولاي شول چې د قانون له لاري د قواعدو برخه شي، د بيلګې په توګه هغه پريکړې چې له سياسي پلوه په يو اړخيزه توګه ترسره شوې. سربيره د ټاکنو د قانون مصوبه هم بايد د بحث برخه واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۲ وړانديز)*

- دغه قانون بايد د ټاکنو د شکايتونو له کميسيون څخه د هغې د کړنلارو، پريکړو او دلايلو سره په تړاؤ بشپړه روڼتيا وغواړي. همدا راز نوموړي قانون بايد د شکايت کوونکو افرادو او شاهدانو د ساتنې بندوبست هم وکړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۵ وړانديز)*

- د انتقالي عدالت او ټاکنو تر منځ د واضح جلاوالي پر يقيني کولو بايد لازيات ټينګار واوسي، نه د ټاکنو خپلواک کميسيون او نه د ټاکنو د شکايتونو کميسيون بايد دا مسؤليت ولري چې څوک د ناقانونه وسله والو ډلو سره تړاؤ لري. د ناقانونه وسله والو ډلو سره په تړاؤ د ټاکنيزو ادارو رول بايد يوازې تر طرزالعمل پورې محدود وي، د هغو اشخاصو ليرې کول دهغه اداری مسؤليت و اوسی چې دا قدرت ورته ورکړل شوي وي چې دا ډول اړيکې معلومې کړي. ټاکنيزې اداري بايد د کانديد له پلوه ورکړل شوي معلومات د اعتراض د پروسې په موده کې اړوندو چاروکو ته وسپاري ترڅو په دې فکر وشي چې آيا دغه شخص بايد داسې وګڼل شي چې نور له وسله والو ډلو سره تړاؤ نلري. *(د ۲۰۰۹ کال ۵۰ وړانديز)*

- د انتقالي عدالت لپاره بايد يو بشپړ روش خپله شي چې د خيانت د معلومولولپاره يو اغيزمن ميکانيزم ولري. که چيرې ډاياګ د کانديدانو د ارزونې لپاره د حقوقي اړتيا په توګه استعمال کړل شي چې و ارزوی چې کانديدان د ناقانونه وسله والو سره تړاؤ نلري، نو زيات شمير منابع بايد ددې پروسې لپاره ځانګړې کړل شي او شفافيت بايد له واضح معلوماتو سره د ډاياګ پروسې ته د کړنلارې او ارزونې لپاره وغځول شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۵۱ وړانديز)*

- د نامزدۍ د عريضې په ورکولو سره بايد ممکنه کانديدان خپل نومونه د ډاياګ په ليست کې وګوري. يوه اوږده موده بايد کانديدانو ته ورکړل شي ترڅو د بې وسلې کولو د پروسې له اړتيا سره ځان برابر کړي، او د موافقت د هر ډول ارزونې په اړه پريکړه بايد د ډاياګ له پلوه د هغې مودې دننه ترسره شي چې د يوې مناسبې کره کتنې له پلوه يې اړتيا ليدل کيږي. *(د ۲۰۰۹ کال ۵۲ وړانديز)*

- د ټاکنو قانون باید د لازیات وضاحت لپاره تعدیل کړل شي. پدې کې باید د رسنیو لپاره واضح او کره لارښووني موجودې وي چې څه ډول باید کاندیدان او ګوندونه د کمپاین په موده کې تر پوښښ لاندې راولي او باید له منصفانه اصولو سره سم وي او پرته له تبعیض وي. دولتي رسنی د ټاکنو په موده کې ځانګړې وجیبې لري چې باید په واضح توګه تفسیر کړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۱ وړاندیز)*

- د رسنیو یو نوی قانون باید له نړیوالو معیارونو سره ځان برابرول یقیني کړي او همدا راز د صوتي او عکسي سکتور لپاره واضح حقوقي احکام یقیني کړي. ناڅرګند احکام چې د قانون له معیارونو سره تړاؤ لري، د هغې په اړه یا سپیناوي منځته راتلای شي او یا هم لیرې کیدلای شي او هغه حکمونه چې ډېر زیات محدودیتونه وضع کوي باید فسخ شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۲ وړاندیز)*

- د افغانستان د رسنیو د تنظیم اداره باید له حکومت څخه خپلواکه کړل شي. د ادارې واک او اختیار باید په قانون کې واضح کړل شي او باید د یوې بې پرې او په مناسب ډول مرسته شوې دارالانشا له پلوه یې ملاتړ وشي. اساسي منصبونه باید په دغه اداره کې په شفاف ډول او بې له سیاسي مداخلې وټاکل شي. په اوږده موده کې باید نوموړې اداري ته دا مسؤلیت هم وسپارل شي چې په آزاد ډول رسنی د کمپاین په موده کې کنترول کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۳ وړاندیز)*

- د تیري د مخنیوي په موخه باید د واکونو له تصویب سره په تړاؤ حقوقي وضاحت رامنځته شي تر څو د منصفانه او بې تعصبه پوښښ اړتیا پوره شي. د تنظیمونکي ادارې حقوقي واکونه باید څرګند کړل شي. د دغې ادارې او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون تر منځ باید زیاته همکاري موجوده وي او کړنلارې باید واضع شي تر څو یقیني شي چې شکایتونه په مناسب ډول حل کیږي او مناسب اقدامات یې په اړه اخیستل کیږي. *(د ۲۰۰۹ کال۶۴ وړاندیز)*

- له نړیوالو سپارښتنو سره سم، بدنامول، سپکاوی او اړوند تیري باید له جرم وویستل شي او بالاخره یوه خپلواکه تنظیموونکې اداره یا مدني محکمه باید د یو مناسب میکانیزم له لارې یوه پروخت او اغیزمنه اصلاح منځته راوړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۵ وړاندیز)*

- د دولتي رسنیو واکونه او مسؤلیتونه باید د قانون له لارې تضمین شي. داسې میکانیزم باید غوره شي چې له مخې یې د هغوئ آزادي له چارواکو او عامو حساب ورکولو څخه خلاص کړي. او همدا راز د څارنې میکانیزم معرفي کړل شي تر څو د پروګرامونو بې پریتوب یقیني کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۶ وړاندیز)*

- د ټاکنو نوي قانون باید د نویو حکمونو قوي کولو ته ادامه ورکړي تر څو ځانګړو ډلو لکه کوچیان، داخلي بې ځایه شوي خلک، معیوبان، بندیان او هغه اشخاص چې په نظامي ځانګو کې کار کوي – هم د رایې ورکولو موقع ترلاسه کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۷۵ وړاندیز)*

- د محلي او نړیوالو څارونکو حقونه او مسؤلیتونه او همدا راز د پروسې ټولو اړخونو او له ټاکنو سره د اړوندو اسنادو ته د لاس رسي به اړه حقونه هم باید په واضح ډول د ټاکنو په قانون کې بیان شي، او نه باید چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په قواعدو پورې تړلي وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۳ وړاندیز)*

- د ټاکنو قانون باید تعدیل شي تر څو په واضح ډول د کاندیدانو د استازو حقونه او مسؤلیتونه څرګند کړي او هم دا چې دوئ حق لري چې د رایو په ځایونو کې واوسي او د پروسې په اړه ځینو معلوماتو ته د لاس رسي حق لري. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۸ وړاندیز)*

- د ټاکنو د رایې اچوني د ځایونو د نتایجو د باطلولو رول باید په قانون کې په ښکاره ډول واضح شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید دې ته اړ کړل شي چې د هرې پریکړې په اړه کره معلومات او دلایل وړاندې کړي. د بطلان پریکړې باید بیا د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته د شکایت پورې وتړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۲ وړاندیز)*

- د ټاکنو نیټې باید په افغانستان کې داسې وټاکل شي چې له ټاکنو وروسته د څیړنې لپاره اوږده موده په لاس کې وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۷ وړاندیز)*

- د درغلی په وړاندې یوې عملي او هراړخیزې څیړنې ته اړتیا ده ځکه چې د شکایت پر اساس ابتکار او معلومات کافي نه وي .... کړنلارې باید په قانون کې رسمي شي، او تر هغه چې دا ډول قانون نافذ کیږي، دوئ باید د ټاکنو

د خپلواک کمیسیون په قواعدو کې ځای په ځای کړل شي. کړنلارې باید په بشپړ ډول شفافې واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۸ وړاندیز)*

- د ټاکنو قانون باید په ښکاره توګه بیان کړي چې څه باید وشي که چیرې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې یو کاندید د دویم پړاو له ټاکنو دمخه له ټاکنو لاس په سر شي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په قواعدو کې باید له ټاکنو څخه د وتلو موده په واضح توګه بیان کړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۱ وړاندیز)*

- د جزا قانون تعدیل کیدلاي شي ترڅو د ټاکنیزو تیریو په اړه قوي مرجع ترلاسه شي او همدا راز د کمپاین موده، رایه اچونه او له ټاکنو وروسته موده تر پوښښ لاندې راولي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۸ وړاندیز)*

<u>**د لومړیتوب دویمه ساحه:** د ټاکنیزو حقونو د ساتنې لپاره د میکانیزم قوي کول</u>

**الف. نړیوال اصولونه**

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲.۳ ماده وائي چې

*"هغه ټول اشخاص چې پر حقونو یا خپلواکي یې تیري شوي د هغوئ لپاره به یو اغیزمنه د □□□ وي،سره له دې چې تیري د داسې اشخاصو له پلوه شوي چې رسمي دندې لري..... دا ډول □□□ به د یوې مناسبې محکمې، اداري یا مقننه څواک له پلوه منځته راځي یا د هرې بلې اداري له پلوه چې د دولت له خوا وړاندې کیږي، چې قضائي □□□ رامنځته کړي."*

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون ۱۴،۱ ماده عادلانه محکمې ته د رسیدو حق ورکوي:

*"ټول خلک د محکمې او قضا په وړاندې مساوي دي... هر څوک د یوې عادلانه، مناسبې، خپلواکې او بې پرې محکمې ته د رسیدو حق لري چې د قانون له مخې جوړه وي..."*

عمومي تبصره ۲۵ پاراګراف ۲۰ وائي چې

*"باید ....قضائي کره کتنې یا نورو مساوي پروسو ته باید لاس رسی واوسي ترڅو ټاکونکي د رایې پاڼو په ساتنې او د رایو په شمېرنې باوري شي."*

**ب. د ټاکنیزو حقونو د ساتنې لپاره د میکانزم د قوي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کال سپارښتنې**

- الف) د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ظرفیت پورته وړل. د ټاکنو او قضیو د حل لپا ره باید له نړیوالو معیارونو سره سمه روزنه ورکړل شي. مرسته باید په لاندې ساحو کې ورسول شي - د قضیو مدیریت، قضائي اداره، او د قانون د تطبیق څیړنیز تخنیکونه چې د پروسې او اغیزمن حل لپاره اړین دي. سربیره پر دې، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید له قضا او قانون تطبیقوونکو ادارو سره په افغانستان کې نږدې اړیکې ولري.

ب) د شکایتونو په اړه د پوهاوي زیاتوالی. پدې کې باید څیړنې او هم ګټو ته د شکایتونو او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په اړه د مختلفو طریقو ازموینه شامله وي او د شکایتونو پروسه تر ممکنه حده پورې د استعمال وړ او اغیزمنه کړي.

ث) د څارنې امکانات برابرول: د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید د هر ډول ټاکنیزې چارې لکه د رایې ورکوونکو نوم لیکنه، او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړو او کړنو په دوام لرونکې توګه څارنه وکړي او پدې توګه د ستونزو مخه ونیسي.
ج) ټاکنیزو اصلاحاتو کې ونده اخیستل. دا به په ځانګړې توګه ګټه وره وي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ټاکنو په پروسه او د ټاکنو د اصلاح په پلان کې دخیل وي په ځانګړې توګه په سیستم کې د کنترول پروسې ته په ودې ورکولو کې چې په اغیزمنه توګه جوړه شوي او منابع ورکړل شوي وی.

د) تحقیق او محاکمه کولو ته لیږل: که چیرې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړي د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په پروسه او همدا راز د رایې ورکولو او رایې شمیرنې په پروسه کې په ناوړه توګه ښکیل وي نو د شکایتونو کمیسیون باید د ټاکنو خپلواک کمیسیون دا ډول غړي محاکمه کولو ته معرفي کړي پداسې حال کې که چیرې خپله د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دوئ په محاکمه کولو کې پاتې راشې.

ر) له ټاکنو وروسته ارزونه. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید د پخوانیو ټاکنو ارزونه وکړي که چیرې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په داسې کولو کې پاتې راشي. د ۲۰۰۹ کال له قضیې سره په پرتله، دا د درغلی په وړاندې یو تفصیلي ارزونه کیدلاي شي (په نوملیکنه، رایې اچونه او رایې شمیرنه کې) *(د ۲۰۰۹ کال ۳۰ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید ډیرې منابع او قوي ظرفیت په خپل اختیار کې ولري ترڅو خپله دایره وسیع کړي که چیرې مهم شکایتونه په ستر شمیر کې تر لاسه کړي او باید په فعاله توګه له دغو مسالو سره معامله وکړي. دا په ځانګړې توګه په راتلونکې کې د درغلی د مخنیوي او په ټاکنیز سیستم د باور د پیداکولو لپاره ډیر مهم دې. مناسبه ګمارنه، معاشونه او روزنې باید د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته مشخصې شي ترڅو وکولاي شي خپل ماموریت په بشپړ ډول سرته ورسوي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۱ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید وروسته له ټاکنو یو راپور چمتو کړي چې د هغه د کړنلارو، پریکړو، هغه څه چې زده کړي یې دي او د ښه والي لپاره وړاندیزونه پکې شامل وي. پدې کې باید هغه مسالې او قضیې هم شاملې وي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د کم وخت او منابعو له امله یې تر خپل پوښښ لاندې نشواي راوستلای، ترڅو د راتلونکې لپاره د پروسی او لاربسووني له پلوه د نیمګړتیاؤ یو سازماني ریکارډ موجود وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۲ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په یو دایمي اداري بدلولو باندې باید په جدي توګه فکر وشي تر څو ټاکنیزې پروسې او رواني څارنې ته ادامه ورکړل شي. د دا ډول مراقبت له لارې باید د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون سازماني پوهه او ظرفیت لوړشي چې ورسره به حقوقي پیشبیني هم پسې ښه شي. د ټاکنو ترمنځ کیداي شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کوچنی جوړښت ولري خو باید د خپل ظرفیت په لوړولو کې فعال واوسي، د شکایتونو په اړه پوهاوي زیات کړي، په نورو ټاکنیزو کړنو کنترول ولري او د ټاکنیزو اصلاحاتو په راوستلو کې برخه واخلي. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید د ټاکنیزو دورو په هره مرحله کې څارنې ته ادامه ورکړي ترڅو ستونزې په هماغه لومړۍ مرحله کې حل شي په ځاي ددې چې د رایې ورکولو او پایلو په وخت ورته حل پیدا کړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۳ وړاندیز)*

- پدې هم فکر کیدلاي شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په یو خپلواک او بشپړ ډول ملي اداري بدل کړل شي، د پورتنیو ټکو پربنسټ چې فکر پرې وشي او د یو میکانزم انتخاب چې د هراړخیز فکتور، بې پرېتوب او مسلکي کیدل یقیني کړي. په کافي اندازه نړیواله ښکیلتیا او ملاتړ باید دوام وموميې تر څو دغه مهمه ټاکنیزه برخه جوړه او وڅاري. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون مسؤلیتونه باید باالآخره د قضائي قوې برخه وګرځي چې کله د محکمو په سیستم په کافي اندازه عمومي او مخصوص اعتماد او باور رامنځته شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۴ وړاندیز)*

- قانون باید د ټاکنو د شکایتونو له کمیسیون څخه د کړنلارو، پریکړو او دلایلو په اړه بشپړه روښتیا وغواړي. همداراز نوموړی کمیسیون باید د انفرادي شکایت کوونکو او شاهدانو ساتنه وکړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۵ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د فساد په وړاندې هم ګامونه اخیستلاي شي چې په هغې کې د مناسبو معاشونوبرابرول، ډیرو روزنو، د معلوماتو د کنترول او د څارنې د میکانزم احکام شامل دي تر څو ددې اداري سپیڅلتوب وساتل شي. پدې اړه هم فکر کیدلاي شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون جوړښت له هراړخه بشپړ کړل شي.سربیره پر نورو کارکوونکو پدې کې به یو عمومي رئیس، یو حقوقي مشاور، د تعلیمي سوابقو ساتونکي، یو د دفتر رئیس او یو د ریکارډ سکرتر شامل وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۷ وړاندیز)*

- له کمپاین سره تړلي شکایتونه هم د ټاکنې د ورځې د شکایتونو په څیر تصنیف کیدلاي شي، چې شکایتونه د هغوئ د شدت پر بنسټ تصنیف شي او له ټولو څخه جدي شکایتونو باندې لومړۍ پیل وشي. *(د ۲۰۰۹ کال ۵۶ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کاندیدانو او استازو ته د کمپاین د تیریو او تصویب په اړه لا زیات لاس رسي پیدا کولای شي یاني څنګه باید شکایت جوړ شي او شکایتونه څه ډول پروسس کیږي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۰ وړاندیز)*

- د واکونو له تصویب سره په تړاؤ باید د بي تعصبه او بي طرفه پوښښ له شرط څخه د تیري په صورت کي حقوقي وضاحت منځته راوړل شي. د حقوقي واک پرسر د تطبیقوونکي اداري ګډوډ قضائي حکمونه باید اصلاح شي. ددغو ادارو او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ترمنځ باید زیاته همکاري واوسي او کړنلاري باید وضع شي ترڅو یقیني شي چي شکایتونو ته رسیدګي شوي او د حل لار ورته لټول شوي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۴ وړاندیز)*

- د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید ددرغلی د نښو د څیړني لپاره عملي روش خپل کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید بشپړي منابع ولري ترڅو هر اړخیزي څیړني له نورو ټاکنو دمخه ترسره کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۳ وړاندیز)*

- په راتلونکو ټاکنو کې باید همګټو ته له وړاندې واضح معلومات ورکړل شي چي د ټاکنو پایلي به په امکاني ډول له ځنډ سره اعلان شي ترڅو د درغلیو د بشپړې څیړني لپاره وخت ولري. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۴ وړاندیز)*

- د درغلیو د څیړني لپاره یو عملي او هراړخیز روش ته اړتیا ده ځکه چي د شکایت پربنسټ ابتکار او معلومات کافي ندي. پدې کي باید د رایي ورکولو د ټولو ځایونو څیړنه شامله وي چي شکمني پایلي لري، په هغو سیمو کي د رایي ورکولو ځایونه چیري چي محدود یا له سره څارنه نه وه، او یا د رایي ورکولو ناټاکلي ځایونه. نه یوازي هغه ځایونه چي بدي پایلي لري او یا د درغلیو ډیري ښکاره نښي نښاني پکښي موجودې وي بلکه یو ستر شمیر د رایو ځایونه معاینه شي. پدې کي باید د رایي پاڼو د صندوق ، ټولي رایي پاڼي (په شمول د باطلو رایي پاڼو)، د رایي ورکوونکو لیست، د رایي ورکولو د ځاي ژورنال، او د فیصله شویو فورمو پلټنه هم شامله وي. کړنلاري باید په قانون کي شاملي شي او ترهغه چي دا ډول قانون عملي کیږي دوئ باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په مقررو کي شامل شي. کړنلاري باید په بشپړ ډول شفافي وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۸ وړاندیز)*

- پیاوړي هڅي باید ترسره شي ترڅو همګټي د شکایتونو اهمیت ته قایل شي او داچي څه ډول باید شکایتونه وکړل شي. دا باید یوه اوږدمهالی تمرین وي چي د کاندیدانو له نوملیکني ډیر دمخه پیل شي. هدف یي باید ګوندونه، کاندیدان، څارونکي او عام وګړي وي. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون پر خپلواکي او رول د یوې قضائي (د قیصلی صادرونکی) اداري په حیث باید ټینګار وشي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۱۹ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید بشپړي منابع ولري ترڅو وکولاي شي په عملي بڼه خپل د ابتکار واکونه په کار واچوي او اوږدو شکایتونو ته بشپړ ځواب وویلی شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۰ وړاندیز)*

- د رایي اچوني په یوځاي کي د شک او یا د درغلیو په معلومولو سره باید په هغه ځای کي د اچول شویو ټولو رایو پلټنه وشي (د ټولو همزمانو سیالیو لپاره). *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۳ وړاندیز)*

- د درغلیو باید په بشپړ ډول ارزونه وشي ترڅو د مختلفو غولونکو کړنو ماهیت معلوم شي چي ترسره شوي او دا چي په عمل کي باید څه ډول بدلونونه راوستل شي. دا باید د رایي ورکوونکو په نوملیکنه، رایي اچونه، رایي شمیرنه، ترانسپورت او د موادو په انتقال او ساتنه، سر ور کول او نورو کي وکتل شي. دا به هم مهمه وي چي د رایي اچوني په هغو ځایونو کي غولونکي کړني وکتل شي چي د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د سپتامبر د ۸ می نیټي د حکم او یا د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د شکایتونو پریکړو لاندي نه راځي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۴ وړاندیز)*

- د درغلی پروړاندې باید کوټلي ګامونه واخیستل شي. دې کي باید دا شامل وي: د رایي اچوني د ځایونو کارکوونکو ته سختي لارښووني وشي چي یوازې هغو رایه اچوونکو ته رایي پاڼي ورکړي چي نومونه یي د رایي ورکوونکو په لیستونو کي شامل دي، د سر ورکولو پاڼي د شمیرني لپاره ولري چي له حساسو موادو سره استعمال او وساتل شي او د پایلو فورمي مهرولاک کړي چي د پایلو کرښه د یوې شفافي سریښناکي پټی په واسطه وپوښل شي. په ولسوالیو او رایي ځایونو کي چیرې چي سوالیه پایلي وي، نو د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي داسي یو سیستم پلي کړي چي ټوله ورځ د پایلو په اړه راپورونه ترلاسه کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۵ وړاندیز)*

- د راتلونکي مودې کاندیدانو څخه باید غوښتنه وشي چې په ښکاره توګه یو دستورالعمل لاسلیک کړي. همدا راز د ټاکنو اخلاقي هڅې باید د ټاکنو د څپلواک کمیسیون پر کارکوونکو (د راې اچونې کارکوونکو په ګډون)، ګوندونو او کاندیدانو، دولتي امنیتي ادارو او پر رسنیو د روزنې په بڼه پلې شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۶ وړاندیز)*

- مالي لګښتونو ته په پام سره، د ټاکنو څپلواک کمیسیون کولای شي ځینې کارکوونکي بدل کړي ترڅو له څپلو اصلي ځایونو څخه لیرې کار وکړي. په ټوله ورځ کې د ټاکنو د څپلواک کمیسیون له پلوه د ځای پر ځای چک او تعقیب لپاره د رایې اچونې په مرکزونو او ځایونو کې د یو پیاوړي سیستم منځته راوړل د هغو کارکوونکو له لارې کیدلای شي چې د هیواد له مختلفو برخو څخه ګمارل شوي وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲۷ وړاندیز)*

<u>**د لومړیتوب درېمه ساحه:** د ټاکنو له څپلواک کمیسیون څخه د ټاکنو د سمون دیوی څپلواکې، مسلکي او بې پرې اداري جوړل</u>

**الف. نړیوال اصول**

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲۵مه ماده د خلکو د حقونو په اړه داسې وائي

*"په واقعي او دوره ئي ټاکنو کې رایه ورکول او د ځان کاندیدول چې <u>جهاني واوسي او ټول درایې اچونې حق ولري</u> او د پټو رایو له لارې ترسره شي، چې د ټاکونکو د آزادې ارادې ښکارندوئ وي." (ټینګار رې ورزیات شوي)*

د مدني او سیاسي نړیوال کنوانسیون د ۲۵مې مادې عمومي تبصره وائي:

*"یوه څپلواکه ټاکنیزهǚǚ باید منځته راشي ترڅو د ټاکنو پروسه وڅاري او یقیني کړي چې ǍǎǓ په عادلانه، بې پرې او قوانینو سره سمه ترسره شوې او داچې له کنوانسیون سره مطابقت لري."* ۲۰ بند زیاتوي *"د رایو د صندقونو امنیت باید تضمین شي او رایې باید د کاندیدانو یا د هغوئ د استازو مخکې وشمېرل شي... ترڅو ټاکونکي د رایې پاڼو په ساتنه او شمېرنه باور پیدا کړي."*

د ملګرو ملتونو د شورا ۵۵/۹۶ پریکړه پر دولتونو غږ کوي چې باید یقیني کړي چې:

*" د قانون جوړنې، ادارو او میکانزم له لارې... د ټاکنیزې پروسې شفافیت او پاکوالي."* په هیوادونو همدا راز غږ کوي چې د *"عامه ادارو شفافیت"* ښه کړي او هم د عامه مامورینو محاسبه شدیده کړي.[۴۲]

**ب. د ۲۰۰۹ کال وړاندیزونو پر بنسټ د ټاکنو له څپلواک کمیسیون څخه د یو څپلواکې، مسلکي او بې پرې ټاکنیزې اداري جوړول**

- د ټاکنو د څپلواک کمیسیون د نوي قانون د جوړښت له مخې باید د دغه کمیسیون د کمشنرانو د ټاکلو په میکانیزم جدي غور وشي تر څو پراخه مشورې یقیني کړل شي، د کمیسیون څپلواکي او استازیتوب او په ټاکنو د وګړو باور لاپسې زیات شي. بدې کې له پارلمان څخه مشوره، تجدید نظر او یا د هغو کاندیدانو تائید شامل دی چې د ولسمشر له پلوه معرفي کیږي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۷ وړاندیز)*

---

۴۲ د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې پریکړه د دیموکراسي پرمختګ او یوځای کول مادې (A/Res/55/96) 1d(iv) او 1f(i) . نوموړې قرارداد د ۲۰۰۰ کال د دسامبر په ۴مه نیټه تصویب شو چې ۱۵۷ رای (د افغانستان په ګډون) په پلوې، هیڅ په مخالفت او ۱۶ غیرحاضرې وې http://daccessdds.un.org/doc/UNDOC/GEN/N00/565/15/PDF/N0056515.pdf?OpenElement

- د ټاکنو د کمیسیون د دارالانشأ رئیس باید یوازې د ولسمشر له پلوه ونه ټاکل شي بلکه د کمشنرانو په څېر همګټي هم باید د هغه په ګمارنه کې په پراخه کچه دخیل واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۸ وړاندیز)*

- رسمي پروسیجرونه باید وضع کړل شي ترڅو یقیني شي چې د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون ټول قانوني او د کړنلارو اسناد په رسمي توګه تصویب شوي، په واضح توګه د تطبیق نیټه لري او په عاجل ډول خپاره شوي دي. د پروسیجر اصول باید د مقررې د "طاق-عمر" او هغه پروسه چې له لارې یې وضع شوې مقررې تعدیل یا لغوه شوي، وټاکل شی. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۱ وړاندیز)*

- د اداري اصلاحاتو کمیسیون او دداخلي ګمارني پالیسي ګاني باید ځانګړي احکام ولري ترڅو د اصلاحي ګامونو د پروخت تطبیق ته لار هواره شي. پدې کې بې له ځنډه له کار څخه ګوښه کول هم شامل دي په هغه صورت کې که چیرې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکي، چې په هره کچه وي، او یا یې له پوهې سره نورو ته اجازه ورکړې وي چې د ټاکنو په درغلیو کې ښکیل شي. د ټاکنو هغه کارکوونکي چې په درغلیو کې ښکیل دي باید په جدي توګه په تورلیست کې شامل شي او هرکله یې چې امکان وي باید محاکمه شي. دا ډول پروسیجرونه باید په ښه توګه تشهیر شي ترڅو د معافې په اوسني کلتور باندې تصرف راوستل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۴ وړاندیز)*

- د ټاکنو په ولایتي او ساحوي کارکوونکو باید ځانګړې څارنه واوسي او د ټاکنو د کارکوونکو په حیث باید خاص تاکید د هغوئ په ایمانداری، بې پریتوب او وړتیا واوسي. هر څه باید وشي چې د ټاکنو د مرکزي دفتر او ولایتي دفتر د کارکوونکو ترمنځ اړیکي په دایمي توګه ټینګې وي. په ولایتي یا سیمه ییزه کچه د یو لوژیستیک افسر په لرلو هم باید غور وشي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۵ وړاندیز)*

- یو ستراتیژیک پلان باید جوړ کړل شي، پدې نظر چې د راتلونکي لومړیتوبونه، سازماني بیا جوړونه او د منابعو اړتیا په پام کې ونیول شي. هغه ځانګې چې د دارالانشا له دیپارتمنت سره تړلي دي باید پراخه شي چې زیات مسولیتونه وروسپارل شي. سیاسي ځانګه باید په نوملیکنه، د کاندیدانو په ارزونه او همداراز د کمپاین په مالي چارو کې یو ستر رول ولوبوي. حقوقي دیپارتمنت باید تقویه کړل شي ترڅو وتوانیږي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته شکایتونه وړاندې کړي او هم وکولاي شي له حقوقي لارو د رایي اچوونکو په نوملیکنه، رایي اچولو او رایې شمیرنې او په لیستونو کې د درغلیو څیړنه وکړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۶ وړاندیز)*

- د یو تاسیساتي پرمختیائي کاري چوکاټ او ستراتیژیک پلان دننه د کارکوونکو پوزیشنونه او د وظایفو لایحې بیاله سره کټل کیداي شي ترڅو کارونه، لیاقت او مهارتونه د ضرورت پر بنسټ تصحیح او تنظیم شی. له پنځه کلن قرارداد سره کارکوونکو ته د تعلیمي امتیازونو او د ماستري پروګرامونو په ورکولو سره کمیسیون کولای شي تجربه لرونکي کارکوونکي د ډیرې مودې لپاره له ځان سره وساتي. ټولي ګمارني او ترفیع باید یوازې او یوازې د وړتیا پر بنسټ وي. د پروژې اداره، پلان جوړول، لوژیستیک او خریدارۍ په ځانګو کې باید د یو شمیر په ښه شویو ځائي کارکوونکو لپاره د رسمي زده کړو او مسلکي سندونو ترلاسه کول په پام کې ونیول شي. د حقوقي مسودو په لیکنه او اداري مقررو په تدوین کې هم باید تکراري روزنه ورکړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۷ وړاندیز)*

- که د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له پلوه بشپړه همکاري واوسي او دی ته چمتو وي چې پر مشورو غور وکړي نو نړیوال مشاورین دې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له دارالانشا سره تر ۲۰۱۰ کال او یا حتي له هغې وروسته هم ملاتړ ته ادامه ورکړي، خو پدې شرط چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون اصلاحات جاري وساتي او له نړیوالو معیارونو سره سمې ټاکنې ترسره کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۲۹ وړاندیز)*

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکو، موادو، اسنادو، د پایلو ډیټابیس، د کمپیوټر ریکارډونو، د رایې اچونې ریکارډونو، وغیره ته بې له قید او شرط لاس رسی ولري (پداسې بڼه چې کار ترې واخیستل شي) *(د ۲۰۰۹ کال ۳۶ وړاندیز)*

- نورو هراړخیزو او اغیزمنو هڅو ته اړتیا ده چې ښځې د ټاکنو د کارکوونکو، تالاشي کوونکو او څارونکو، او هم د عامه پوهاوي او رایه اچوونکو د روزونکو په توګه وګمارل شي. ددې موخې لپاره له ځائي نادولتي موسسو څخه هم ګټه اخیستل کیدلای شي چې په ټولنو کې شبکې لري. *(د۲۰۰۹ کال ۶۹ وړاندیز)*

- د رايي مرکزونو موقعيت بايد بيا له سره وکتل شي او *شخصي* ودانۍ بايد استعمال نشي په ځانګړې توګه هغه چې د کانديدانو يا دولتي چارواکو پورې تړلې وي. د رايو مرکزونه او ځايونه بايد له امنيتي ځواکونو سره د ټاکنو له ورځې ډير دمخه جوړ کړل شي او بايد وروسته نور ورزيات نکړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۹۶ وړانديز)*

- د ټاکنو د خپلواک کميسيون له پلوه بايد د هغو کانديدانو رايو د شميرنې، په ليست کې شاملول او اعلان په اړه د ټاکنو له ورځې ډير د مخه پروسيجر جوړ کړل شي چې له سيالۍ لاس په سر شوي ترڅو سپيناوی يقيني کړل شي او له دې تور څخه وژغورل شي چې نوموړي پروسيجر د ځانګړو کانديدانو په ګټه جوړ شوی. دا معلومات بايد په عامه توګه اعلان کړل شي او په پراخه توګه خپاره شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۰۴ وړانديز)*

- د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد د رايي ځايونو ټول معلومات په عاجل ډول خلکو ته وړاندې کړي. واضح معلومات بايد ورکړل شي چې د رايي اچولو کوم ځايونه خلاص و او کوم تړلي دي. ټولې پاڼې چې د رائې اچولو له مرکزونو څخه په لاس راغلي بايد اعلان کړل شي، او د ټاکنو د خپلواک کميسيون له پريکړې وروسته بايد د رايي اچولو د هر مرکز پاڼې داسې په نښه شي چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون له پلوه د ابتدائي پاڼو په حيث تصويب شوي. هغه پاڼې چې د ابتدائي پاڼو په حيث ندي تصويب شوي بايد په اړه يې وضاحت ورکړل شي چې ولې ندي تصويب شوي او په اړه يې څه ډول ګامونه اخيستل شوي. له ټاکنو مخکې بايد په واضح توګه د څيړنو، تفتيش او د بيا شميرنې په اړه د ټاکنو د خپلواک کميسيون پروسيجرونه واضح او ممکنه بنديزونه بيان کړل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۰۷ وړانديز)*

- د پاڼو معلوماتو ته بايد خلک بشپړ لاس رسی ولري ترڅو وکولای شي په ډيجيټال شکل يې له ويبپاڼې څخه هم ترلاسه کړای شي او ارزونه يې وکولای شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۰۹ وړانديز)*

- ملګري ملتونه بايد د مرستې د ترلاسه کولو د هماهنګۍ مسؤليت په غاړه ولري او بايد په اړه يې لازيات فعال شي. پدې کې بايد له هغو ټولو ادارو سره منظمې غونډې ونيول شي چې د تطبيق لپاره تخنيکي مرستې رسوي، ترڅو د مسؤليت، کړنو، پلانونو او د ادارو ترمنځ د وړانديزونو او سپارښتنو په سر بحث او که چيرې ممکن وي، توافق وکړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۳۳ وړانديز)*

- د راتلونکو ټاکنو او په اوږده موده کې د سازماني وړتيا پراختيا ته بايد همزمانه مرسته ورسول شي. پلانونه بايد د ځوکلنيزې مرستې پربنسټ ولاړې وي او بايد له هرې ټاکنې وروسته يوه اړخيزه کره کتنه ترسره شي ترڅو هغه درسونه په ګوته شي چې زده کړی شوي او د نورو مرستو لپاره پلان جوړکړل شي. سربيره پردې چې نړيوال مشاورين د ټاکنو له خپلواک کميسيون سره د ځانګړو ټاکنيزو کړنو په پلي کولو کې کارکوي، بايد نورې مشخصې ستراتيژۍ او کړنې هم د ظرفيت د لوړولو په موخه ترسره شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۳۵ وړانديز)*

**د لوموړیتوب څلومه ساحه:** د ټاکنیزې سپیڅلتیا په موخه د یوې جامع نوملیکنې رامنځته کول

**الف. بین المللي اصول**

۲۵ عمومي تبصره وائي چې:

*"دولتونه باید اغیزمن ګامونه پورته کړي ترڅو یقیني کړي چې هغه ټول خلک چې د رایې ورکولو مستحق دي، وتوانیږي چې خپل دغه حق استعمال کړي. په کوم ځای کې چې نوملیکنې ته اړتیا ده، دا باید برابره کړل شي او دداسې نوملیکنې په وړاندې باید خنډونه جوړنکړل شي. که د استوګنځې شرط له نوملیکنې سره تړلې وي، نو داډول شرطونه هم باید منطقي او داسې باید تطبیق نکړل شي چې بې کوره خلک له رایې ورکولو وویستل شي. د نوملیکنې یا رایې اچونې په بهیر کې د رایې ورکونکو په وړاندې هرډول ناوړه مداخله، تهدید یا تیري مخه باید د جزائي قانون له مخې ونیول شي او دغه قوانین باید په جدي توګه پلې شي. د رایې ورکوونکو د ښوونې او ثبت کمپاین ضروري دي ترڅو یقیني شي چې د حقونو ۲۵ ماده په اغیزمن ډول پلې شي."* [۴۳]

**ب. د ۲۰۰۹ کال وړاندیزونه: د ټاکنیزې سپیڅلتیا د ساتنې لپاره د یوې جامع نوملیکنې جوړول**

- د نوملیکنې په پروسه دخلکو د باور زیاتولو په موخه او دا چې د رایې ورکوونکو په نوملیکنه کې د معافیت کلتور د محو کولو هود یقیني شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د رایې اچوونکو په نوملیکنه کې د درغلیو څیړنه ترسره کړي او چې چیرې ممکنه وي د هغو کارکوونکو او اتباعو په وړاندې ګامونه پورته کړي چې په دغو درغلیو کې ښکیل دي. *(د ۲۰۰۹ کال ۳۸ وړاندیز)*

- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ماهرینو د یوې نړیوالې ډلې له خوا باید په بیړنې توګه د نوملیکنې په اړه یوه هراړخیزه کره کتنه او تفتیش ترسره شي ترڅو د نوملیکنې د پروسې لپاره یوه ستراتیژیکه لاره غوره کړي.

  نوموړې کره کتنه او تفتیش باید لاندې څه راونغاړي:

  - د ۲۰۰۹/۲۰۰۸ کال د معلوماتو تحلیل او پرتله د ۲۰۰۵/۲۰۰۴ کال د نوملیکنې له معلوماتو سره تر څو د امکاني دوه ځلې نوملیکنې پیژندنه وشي. ددې معلوماتو په لاسته راوړلو سره دا پریکړه کیدلای شي چې آیا د ۲۰۰۹/۲۰۰۸ کال معلومات دومره دقیق ول چې د راتلونکو نوملیکنو لپاره اساس وګرځول شي او ترې کار واخیستل شي.

  - د بایومیترک (انفرادی مشخصاتو معلومات) د نوملیکنې د کیفیت ارزونه وشي ترڅو معلوم کړل شي چې آیا په راتلونکې کې د رایې ورکوونکو د نوملیکنې لپاره دا د هراړخیزو معلوماتو د راټولو لپاره مناسبه کړنه ده کنه.

  د پایلو ستراتیژیک پلان باید واضح کړي چې آیا:

  - یوه مدني نوملیکنه ترسره کړي چې پربنسټ یې د رایې ورکوونکو لیست جوړیدلاي شي او تذکرې به د رایې ورکوونکو د کارتونو پر ځای د رایې اچولو په مرکزونو کې استعمالیږي ، یا

  - د رایې ورکوونکو د نوملیکنې هڅې په همدې شکل جلا ترسره شي.

  *(د ۲۰۰۹ کال ۴۱ وړاندیز)*

- که ښځې وي یا نارینه، د ټولو نوملیکونکو کارتونه باید عکس ولري (ترڅو د درغلیو د هڅو مخنیوی وشي). دا باید د نوملیکنې د ښځینه کارکوونکو له پلوه ترسره شي، دښځو لپاره د نوملیکنې په مرکزونو کې جلا ورځې واوسي، د معلوماتو د راغونډولو کارکوونکې ښځې واوسي او نور میکانزمونه هم په نوې بڼه واي ترڅو په پروسه باندې باور پیداکړل شي، لکه د پیاوړې روزنې کمپاین. *(د ۲۰۰۹ کال ۴۲ وړاندیز)*

- نورې هڅې هم باید ترسره شي ترڅو نارینه د ښځو په ځاي رایې ورنکړي او د ښځو لپاره د رایې ورکولو د پروسې سپیڅلتیا ښه کړل شي. دا هدف د رایو په کارتونو د عکس له شرط سره ترلاسه کیدلای شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۶۸ وړاندیز)*

---

۴۳ ۲۵مه عمومي تبصره، ۱۱ پاراګرف

- د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي د هرې ولسوالۍ لپاره د جندر پربنسټ معلومات راټول کړي ترڅو د ښځو د ونډې څارنه وشي او مناسب او پروخت مداخلې منځته راوړل شي. په ځانګړې توګه، د رایې ورکوونکو په کارتونو، د رایې اچولو په کارکوونکو، هغه سندونه چې خپاره شوي او د ښځو د رایې اچولو په ځایونو کې د دا ډول معلوماتو پرثبتولو باید ټینګار وشي (ترڅو په دقیق ډول د ښځینه کارکوونکو ونډه او د درغلیو څیړنه وشي). *(د ۲۰۰۹ کال ۷۳ وړاندیز)*
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون همداراز نورې هڅې هم ترسره کولای شي ترڅو د کوچیانو لپاره د رایې اچونې روزنه، نوملیکنه او د رایې اچونې فرصتونه چمتو کړل شي. خو دا ډول منابع باید تل له سره وکتل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۷۷ وړاندیز)*

**د لومړيتوب پنځمه ساحه:** د منلو شويو ټاکنيزو سرحدونو منځته راوړل

**الف. نړيوال اصولونه**

د ملګرو ملتونو د مدني او سياسي حقونو کنوانسيون (ICCPR) د خلکو د حقونو په اړه ۲۵ ماده داسې کاږي:

*" په واقعي او دوره ئي ټاکنو کې رايه ورکول او د ځان کانديدول چې جهاني واوسي او ټول درايې اچونې حق ولري او د پټو رايو له لارې ترسره شي، چې د ټاکونکو د آزادې ارادې ښکارندوئ وي." (ټينګار ړې ورزيات شوي)*

د مدني او سياسي نړيوال کنوانسيون د ۲۵مې مادې عمومي تبصره وائي:

*"د يو شخص، يوې رايې اصول بايد تطبيق کړل شي، او د هر ايالت د ټاکنيز سيستم له کارې چوکاټ سره سم، د يوه ټاکونکي رايه بايد د يو بل ټاکونکي له رايې سره برابره وي. د ټاکنيزو سرحدونو راښکل او د رايو د تخصيص ميتود بايد د رايې ورکوونکي ويشل ويجاړ نکړي او يا د کومې ډلې په وړاندې تبعيض رامنځته نکړي او بايد بې له دليله خلک په آزادانه توګه د رايې ورکولو له حق څخه محروم نکړي."*[۴۴]

**ب. د منل شويو ټاکنيزو سرحدونو په جوړولو د ۲۰۰۹ کال وړانديزونه**

- د ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو لپاره بايد د ولسواليو د موجوده سرحدونه په اړه فکر وشي، که چيرې دا په پراخه توګه د منلو وړ وي او يا که چيرې ټاکنې په ۲۰۱۰ کال کې ترسره شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۴۳ وړانديز)*
- د کليو د سرحدونو معلوملو لپاره بايد مناسب پلان جوړ، تمويل او پلې کړل شي. پدې اړه تخنيکي کار بايد په ۲۰۰۹ کال کې پيل شي که چيرې غوښتل کيږي چې کار بايد د ۲۰۱۰ کال د کليو د شوراګانو له ټاکنو د مخه بشپړ شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۴۴ وړانديز)*

---

۴۴ د ۲۵ عمومي تبصرو، ۲۱ پاراګراف

<u>**د لومړیتوب شپږمه ساحه:** د اغیزمنو سیاسي ګوندونو تقویه کول</u>

**الف. نړیوال اصولونه**

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون ۲۲ ماده وائي چې:

*۱ . هرڅوک باید د آزادی حق ولري چي له نورو سره په ګډه ټولنه جوړه کړي، په شمول ددې چې د خپلو ګټو د ساتنې لپاره د اتحادیې د جوړولو حق ولري.*

۲۵عمومي تبصرې وائي چې:

*" هغه حقونه چې د ۲۵ مادې له مخې یې ساتنه شوې په سیاسي کړنو کې په آزادی ټینګار کوي چې که په انفرادي توګه وي او یا د سیاسي ګوندونو او نورو سازمانونو له لارې منځته راځي... د اتحادیې دجوړولو آزادي او همداراز د سازمانونو جوړول یا له یو داسې سازمان یا اتحادیې سره یوځای کیدل چې د سیاسي یا عامه چارو پورې تړلي وي، د ۲۵ مادې یو ضروري ضمیمه تشکیلوي چې د حقونو ساتنه کوي. سیاسي ګوندونه او د ګوندونو غړیتوب د عامه اړیکو او ټاکنو په پروسه کې عمده رول لوبوي... که څه هم د ملګرو ملتونو پورته یاد شوي کنوانسیون د کوم ځانګړي ټاکنیز سیستم پر پلي کولو تأکید نه کوي. هرهغه سیستم چې په یو کې پلي دي باید د ۲۵ مادې د حق ساتنې له اصول سره سر وخوري او باید د ټاکونکو خپلواکه څرګندونه تضمین کړي او پلې یې کړي..." (۴۵)*

د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا تصویب شوی اعلامیه د هغو خلکو پر حقونو چې له ملي، نژادي، مذهبي او ژبنیو اقلیتونو پورې تړلي،[۴۶] وائي:

*"هغه خلک چې له اقلیتونو پورې تړلي، حق لري چې خپلې اتحادیې جوړې کړي." (۴)*

د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو شورا پر اقلیتونو او اغیزمنې سیاسي ونډې سپارښتنې تصویب کړې چې وائي:

*"هغه سیاسي ګوندونه چې پر اقلیتونو یا سیمه بیزو تړاونو ولاړې دي باید یوازې په دې دلیل یې مخه ونه نیول شي. سره له دې، د تشدد له لارې سیاسي اهدافو ته د رسیدلو ملاتړ او یا له سیاسي ډګر څخه د نفرت او تبعیض پر خپرولو باید محدود بندیزونه ولګول شي." (۴۸)*

**ب. د اغیزمنو سیاسي ګوندونو د تقویه کولو په اړه د ۲۰۰۹ کال وړاندیزونه**

- هم ګټې باید په دې غور وکړي چې آیا د واحدې ناقابل انتقال رایې سیستم د پارلماني، ولایتي او ولسوالیو شوراګانو لپاره ترټولو غوره سیستم دی. دا بنائي پروخت وي چې اوس پدې غور وشي چې آیا د ټاکنو یو بل داسې سیستم منځته راوړل به د ولسواکۍ د ثبات لپاره ډیر ګټه ور وي چې د سیاسي ګوندونو جوړول وهڅوي او هم د خپلواکو کاندیدانو حقونه ساتي. *(د ۲۰۰۹ کال ... وړاندیز)*
- د سیاسي ګوندونو نوي قانون باید د ځینو مسلکونو پر غړو بې ځایه بندیزونه ونه لګوي چې د یو حزب غړي شي او باید وکړي منع نه کړي چې له یو ګوند څخه د زیاتو ګوندونو غړي واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۲ وړاندیز)*

۴۵ د ۲۵ عمومي تبصرې ۲۵، ۲۶ او ۲۱ پاراګراف
۴۶ د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې پریکره لیک ۴۷/۱۳۵، ۱۸ دسامبر ۱۹۹۲
۴۷ ۲مه ماده، ۴ پاراګراف
۴۸ د ملګرو ملتونو د بشر دحقونو شورا، د اقلیتونو د مسالو غونډه پر اقلیتونو او د اغیزمنو سیاسي ګوندونو ونډه، ۳۳ پاراګراف، A/HRC/13/15,

- سیاسي ګوندونو ته د هغوئ د غړیتوب او یا د لاس ته راوړل شوی رایو د فیصدئ پر بنسټ د حکومت له پلوه د امتیازونو پر ورکولو غور کیداي شي. د دولت له پلوه د داسي مرستو کچه باید دومره لوړه وي چي خپلي اغیزې ولري. دا به کاندیدانو ته یو امتیاز ورکړي چي د احزابو له لارې ځان کاندید کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۳ وړاندیز)*

- رسنۍ کولای شي د ګوندونو نظر معلوم کړي او د سیاسي ګوندونو ترمنځ مباحثې جوړې کړي او په مخامخ بڼه یې خپرې کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۴ وړاندیز)*

- د سیاسي ګوندونو د پراختیا په موخه باید ډیرملاتړ وشي: د ګوند د پراختیا په جوړښت، د مرامنامې په جوړوني، عامه اړیکو، د ستراتیژیو ځارني، د شکایتونو په وړاندې کولو او نورو ساحو کې د روزني او نورو فرصتونو له لارې واوسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۵ وړاندیز)*

- اضافي روزنه او تخنیکي مرسته چي له روزنیزو ورکشاپونو څخه په پورته کچه وي، ښځینه کاندیدانو ته د حوزوی ملاتړ په لاسته راوړلو، د وینا کولو په مهارتونو، د مرستو د ترلاسه کولو په مهارتونو، رسنیو ته وخت، شبکه جوړلو او عامه پوهاوي په ځانګو کې ورکول کیدای شي. داسې پروګرامونه چي د کاندیدانو کړنو ته وده ورکړي، کولای شي چي د نارینه و او هم د ښځو ملاتړ، ښځو کاندیدانو ته په ټوله ټولنه کې زیات کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۷۰ وړاندیز)*

- بریالیو ښځینه کاندیدانو ته تخنیکي مرسته باید ورکړل شي ترڅو په خپلو حوزو کې د هغوئ د خدمت کولو وړتیا پیاوړې کړي او که امنیت اجازه ورکړي نو په عامو خلکو کې خپل نوم ښه کړي. ددې مرستې په رسولو سره ښځینه استازې کولای شي له خپلو نارینه و همتالو سره کاري اړیکي پیدا کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۷۱ وړاندیز)*

- ګوندونو، کاندیدانو او استازو ته د استازو په رول او د استازو د معلوماتو د راغونډولو په وړتیاؤ روزنه ورکول کیدلای شي. د رایو د ځارني ستراتیژۍ، ثبتول او د پایلو د معلوماتو استعمالول، او د شکایت کول هم پداسې روزنو کې شامیلیدلاي شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۹۰ وړاندیز)*

**د لومړیتوب اوومه ساحه:** د ځانې ځارنې د ټاکنو د ارزونې د یوې مهمې وسیلې په توګه تقویه کول

**الف. نړیوال اصولونه**

۲۵ عمومي تبصره وائي چې:

*"عوام د خپل نفوذ څخه په استفادې سره د عامه ویناوو او خبرو اترو له لارې له خپلو استازو سره یا د خپلې وړتیا په تنظیمولو په عامه چارو کې برخه اخلي."* [۴۹] همداراز دا وائي چې *"د رایې اچونې او رایې شمیرنې د پروسې باید په خپلواکه توګه څیړنه وشي... تر څو ټاکونکي د رایې پاڼې په ځ□ړنه او د رایو په شم□ر باور پیدا کړي."* [۵۰]

په دوره ئي او اصلي ټاکنو کې د ملګرو ملتونو د رول د تقویه کولو په اړه د ملګرو ملتونو عمومي غونډه ژمنه کوي چې

*"د آزادو او منصفانه ټاکنو لپاره شفافیت بنیاد دی"،* هرکلی کوی او وائي *"هغه ونډه چې [ ... ] نادولتي سازمانونو د دوره ئي او اصلي ټاکنو د اغیزې د زیاتوالي په موخه ترسره کړې"* او مني چې *"د خپلواکو او منصفانه ټاکنو د ترسره کولو لپاره نړیواله څارنه مهمه ده."* [۵۱]

**ب. د یو ضروري اوزار په توګه د ځائي څارنې د قوي کولو په اړه د ۲۰۰۹ کال وړاندیزونه**

- د هغو نادولتي موسسو ظرفیت باید لوړ کړل شي چې تمرکز یې په ښځو باندې وي ترڅو مدني ټولني منځته راشي ترڅو په ټاکنیزې پروسه کې د ښځو د ګډون ملاتړ وکړي او ویې څاري. *(د ۲۰۰۹ کال ۷۴ وړاندیز)*
- حکومت کولاي شي چې د نادولتي سازمانونو قانون او د اجتماعي سازمانونو قانون سره یوځاي کړي چې د نادولتي، غیر انتفاعي، او غیرسیاسي ادارو له ثبت او راجستر سره تړاؤ لري. د پیچلي ثبت او د راپور ورکولو شرطونو پرسر باید عقلي دلیلونه وي (د بیلګې په توګه عریضي باید یوازې یوې اجرائیوي اداري ته وړاندې شي) او د اجتماعي سازمانونو د بهرنیو مرستو د ترلاسه کولو په سر د بندیز په اړه باید مقررې هم تر غور لاندې ونیول شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۰ وړاندیز)*
- نړیواله ټولنه باید د افغانستان له مدني ټولنو سره د سازماني ظرفیت او د نادولتي موسسو د اداري په ښه والي کې تخنیکي مرستو ته ادامه ورکړي او همدا راز د مدني ټولنو د اهمیت په اړه (د افغان چاروکو ترمنځ هم) پوهاوی زیات کړي. دغه مرستې باید په ځانګړې توګه د هیواد ولایتونو ته ورسول شي چیرې چې د مدني ټولنو کړنې ډیرې کمزورې دي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۱ وړاندیز)*
- د فشار تورونه او د ځائي څارونکو ډارونه باید په بشپړ ډول وڅیړل شي او له مسؤلو کسانو څخه حساب واخیستل شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۲ وړاندیز)*
- د ځائي او نړیوالو څارونکو حقونه او همداراز د پروسې ټول پړاونه او له ټاکنو سره تړلي ټولو اسنادو ته د هغوئ د لاس رسی حقونه باید د ټاکنو په قانون کې بیان شي، نه دا چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له مقررو سره تړلي وي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۳ وړاندیز)*
- نړیوال څارونکي او بې ګونده ځائي څارونکي باید په کلکه بې طرفي او بې پریتوب په پام کې ونیسي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۴ وړاندیز)*
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا باید د ځائي څارونکو اجازې د ټاکنو له ورځې څخه د مخه نهائي شي ترڅو ډلې وتوانیږي چې د خپلو اشخاصو د ځاي په ځاي کولو پلان جوړکړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۵ وړاندیز)*
- ځائي څارونکي باید خپله وړتیا پیاوړې کړي ترڅو خپل شکایتونه ورسوي او د شکایتونو پروسه تعقیب کړي *(د ۲۰۰۹ کال ۸۶ وړاندیز)*

---

۴۹ ۲۵ عمومي تبصره، ۸ پاراګراف
۵۰ ۲۵ عمومي تبصره ۲۰ پاراګراف
۵۱ په دوره ئي او اصلي ټاکنو کې د ملګرو ملتونو د رول د تقویه کولو او د دیموکراسی ته د ودې په ورکولو په اړه د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، څلور- شپیتمه غونډه ,A/RES/64/155، ۸ مارچ ۲۰۱۰

- ځائي څارونکو ته باید په دوام لرونکي توګه تخنیکي مرستې ورسول شي ترڅو خپله څارنه او د رایې اچونې د ځایونو ارزونه، او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له پایلو سره خپلې پایلې پرتله کړي. د فیفا سازمان ته باید د اوږدې مودې سازماني مرسته او همداراز مالي او تخنیکي مرسته هم باید د ټاکنو د څارنې د کړنو لپاره ورسول شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۷ وړاندیز)*
- د ټاکنو قانون باید تعدیل کړل شي چې په واضح توګه د استازو حقونه او مسؤلیتونه واضح کړي او هم يې د رایې اچولو په ځایونو او د پروسې په اړه ځینو معلوماتو ته د لاس رسی حقونه واضح کړي. *(د ۲۰۰۹ کال ۸۸ وړاندیز)*
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید یقیني کړي چې د استازو اجازه نامې باید لږترلږه دوه اونۍ د ټاکنو له ورځې دمخه ورکړل شي (د مناسب ضرب الاجل شرط چې عریضې پروسس شي). *(د ۲۰۰۹ کال ۸۹ وړاندیز)*
- ګوندونو، کاندیدانو او استازو ته باید د استازو د رول او کار او د استازو له معلوماتو څخه د ګټې اخیستلو په اړه پیاوړې روزنه ورکړل شي. د رایې اچولو د ځایونو څارنه، د پایلو د معلوماتو ثبتول او استعمال او د شکایت کول هم په دا ډول روزنو کې شامیلدلای شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۹۰ وړاندیز)*
- د ټاکنیز مدیریت له کنترول سره مرسته باید د ټاکنو له تنظیم سره له مرستې جلا واوسي ترڅو د مفاداتو له ټکر یا د مفاداتو د ټکر د مفکورې مخنیوی وشي. دا په ځانګړې توګه د ټاکنو د شکایتونو له کمیسیون او ځائي څارونکو او هم د ګوندونو د کاندیدانو له استازو او رسنیو سره ډیر تړاؤ لري. په همدې توګه، له مدني ټولنو سره پر مدني او د رایې ورکوونکو په پوهنه کې هم باید په جلا توګه مرسته وشي او اداره شي. *(د ۲۰۰۹ کال ۱۳۶ وړاندیز)*

**دویمه ضمیمه: مخففات**

| | |
|---|---|
| EST | د ټاکنو د ملاتړ ټیم |
| ICCPR | د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون |
| ICERD | د نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون |
| CEDAW | د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون |
| UDHR | د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| PEC | د ټاکنو ولایتي کمیسیون |
| ECC | د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون |
| PECC | د ټاکنو د شکایتونو ولایتي کمیسیون |
| MoD | د دفاع وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| NDS | د ملي امنیت اداره |
| DIAG | د ناقانونه وسله والو ډلو له منځه وړل |
| ISAF | نړیوال امنیتي مرستندویه ځواک |
| ANSO | د افغانستان د نادولتي سازمانونو د ساتنې اداره |
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون |
| JCMB | د هماهنګۍ او څارنې ګډ بورډ |

| | |
|---|---|
| IDLG | د محلي ارګانونو خپلواکه اداره |
| CSO | د احصائیو مرکزي اداره |
| AGCHO | د افغانستان د جیودیزي او کارتوګرافي مرکزي دفتر |
| FEFA | د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنیاد |
| SNTV | واحد ناقابل انتقال رایې |
| NID | ملي پیژندپانه (تذکره) |
| IDP | داخلي بې ځایه شوي کسان |

## د اروپا د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) په اړه

ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان اساسي سازمان دي ''چې له ګډون کوونکو هیوادونو سره مرسته کوي چې بشري حقونو ته بشپړ درناوی او اساسي خپلواکي یقیني کړي، د قانون پیروي وکړي، د ډیموکراسي اصل ته وده ورکړي او [...] د جمهوري ادارو ساتنه وکړي او پیاوړي یې کړي، او هم په ټولنه کې زغم پیدا کړي'' (د ۱۹۹۲ کال د هلسینکي غونډې پریکړه) دا په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان (OSCE) بشري پلو ته راجع کیږي.

په اروپا کې **د** ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) د پولنډ په وارسا ښار کې مرکزي دفتر لري چې په ۱۹۹۰ کال کې د پاریس په غونډه کې منځته راغې او د ۱۹۹۱ کال د مې په میاشت کې یې عملیات (کار) پیل کړل. یو کال وروسته د دې دفتر نوم بدل کړل شو ترڅو د بشر د حقونو او جمهوري کولو یو پراخه مسؤلیت راونغاړي. نن ورځ له دې سره له ۱۳۰ څخه زیات کارکوونکي دي.

په اروپا کې **د** ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) په اروپا کې د ټاکنو د څارنې په ساحه کې یوه مخکښه اداره ده. نوموړې اداره هر کال د زرګونو څارونکي ګمارنه هماهنګ او تنظیموي ترڅو د دغې ادارې ترپوښښ لاندې سیمې کې د ټاکنو ارزونه وکړي او ووینې چې ددغې ادارې له ژمنو، د جمهوري ټاکنو او ملي قانون جوړنې له نړیوالو معیارونو سره سم دي که نه. ددغې ادارې ځانګړي میتودونه د ټاکنیزې پروسې په اړه په هراړخیزه توګه بصیرت او پوهاوی وړاندې کوي. د مرستندویه پروژو له لارې دغه سازمان له ګډون کوونکو هیوادونو سره مرسته کوي چې خپل ټاکنیز کاري چوکاټ ښه کړي.

د نوموړي دفتر **د جمهوري کولو** کړنې له ځان سره دا څه رانغاړي: د قانون تطبیق، قانوني ملاتړ، جمهوري حکومتداري، مهاجرت او د ګرځیدلو خپلواکي، او د جندر مساوات. سربیره پر دې، دا اداره د مرستو یو لړ کلنې پروګرامونه پلي کوي، ترڅو جمهوري جوړښت رامنځته کړي.

په اروپا کې **د** ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) همدا راز له ګډون کوونکو هیوادونو سره مرسته کوي ترڅو د بشر د حقونو په وده او ساتنه او بنیادي خپلواکي چې د دغې ادارې د بشري پلوونو له ژمنو سره سم وي، د هغوئ د وجایبو په سرته رسولو کې مرسته وکړي. دا هدف له یو لړ ملګرو هیوادونو سره د نږدې هماهنګۍ په منځته راوړلو، د ظرفیت په پورته وړلو، د تروریزم په وړاندې مبارزه کې د بشر د حقونو په ساتنې، د قاچاق شویو کسانو د بشر د حقونو په ساتنې، د بشر د حقونو پوهاوي او روزنې، د بشر د حقونو څارنې او راپور ورکولو او د ښځو د بشري حقونو په ساتنه کې مرسته رانغاړي.

د **زغم** او **عدم تبعیض** په ساحو کې په اروپا کې **د** ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) ګډون کوونکو هیوادونو ته د نفرت د جرمونو او نژادي توپیر پیښو، له بهرنیانو نفرت، له یهودانو نفرت، او تعصب د نورو بڼو په له منځه وړلو کې مرسته کوي. د زغم او عدم تبعیض په وړاندې ددغه سازمان تمرکز په لاندې ساحو دی: قانون جوړونه، د قانون د تطبیق روزنه، څارنه، راپور ورکول، او د هغو جرمونو تعقیب چې له نفرت سره تړلي وي، او همدا راز د ښوونیزو اسانتیاو برابرول تر څو زغم، درناوي، او دوه اړخیزه پوهاوي ته وده ورکړل شي.

په اروپا کې **د** ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو د امنیت سازمان د ټاکنو د مرستي او ملا تړ ټیم (OSCE/ODIHR) ګډون کوونکو هیوادونو ته د **روما او سینټي** پر پالیسیو مشورې ورکوي. نوموړې د روما او سینټي ټولنو ترمنځ د ظرفیت د لوړولو او شبکو جوړولو ته وده ورکوي او د روما او سینټي استازي د پالیسي جوړونکو ادارو په رامنځته کولو هڅوي.

د جمهوري ادارو او بشري حقونو د ادارې (ODIHR) ټولې کړنې د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان (OSCE) له غړو هیوادونو، د (OSCE) سازمان او ساحوي عملیاتو او همدا راز له نورو نړیوالو سازمانونو سره په نږدې همکارۍ او هماهنګۍ ترسره کیږي.

په اروپا کې **د** ډيموکراټيکو بنسټونو، بشري حقونو د امنيت سازمان (ODIHR) په اړه نور معلومات له دې ويب پاڼې ترلاسه کيدای شي: www.osce.org/odihr